انسان ته د شیطان د دښمنۍ یادَونه



تألیف: عبد الهادي بن حسن وهبي
ژباړن: محمد بشیر هدی

Ketabton.com

کتاب شمیره
۶۸

۶۸
کتاب شمیره

ketabton.com - The Digital Library

انسان ته د شیطان د دښمنۍ یادونه

تألیف :عبد الهادی حسن وهبی

ژباړه : محمد بشیر مدنی

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

دژباړونکي سريزه

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين، نبينا محمد ﷺ، وعلى آله وصحبه أجمعين.

اما بعد:

-الله تعالى انسان د خپل عبادت لپاره پيدا کړی او د نېغې لارې د پېژندلو او پيروي لپاره يې ورته عقل، فطرت او د حق او باطل د پېژندلو لارښوونه کړې ده. خو د انسان د پيدايښت له پيل څخه يو ښکاره دښمن ورسره مل دی چې هغه شيطان دی. شيطان د انسان د ګمراه کولو، د الله تعالى له اطاعت څخه د اړولو او د خير له لارو څخه د منع کولو لپاره تر قيامته پورې هڅه کوي. الله تعالى انسان ته د دې دښمن په اړه خبرداری ورکړی او فرمايلي يې دي چې شيطان د انسان ښکاره دښمن دی.

-شيطان انسان ته تل په يوه بڼه نه راځي؛ کله يې د ګناه په ښايسته کولو، کله د خير په کارکې د سستۍ پيدا کولو، کله د وسوسو، کله د وېرې او غم، او کله يې د غفلت او هېرولو له لارې تېرباسي. هغه هڅه کوي چې انسان له اسلام، ايمان، عبادت، هجرت، جهاد او نورو نېکو اعمالو څخه راوګرځوي. همدارنګه په لمانځه، خوب، ذکر او د ژوند په بېلابېلو حالاتو کې انسان ته وسوسې واچوي او غواړي چې د بنده او خپل رب ترمنځ يې اړيکه کمزورې شي.

-له بلې خوا، شيطان يوازې انسان له لويو ګناهونو سره نه مخ کوي، بلکې کوچنۍ ګناهونه هم ورته سپک او بې ارزښته ښيي، څويې انسان په تکرار سره وکړي او وروروبې زړه د ګناهونو پر وړاندې بې پروا شي. همدارنګه د بدعتونو او هغو چارو له لارې چې د دين له اصلي لارښوونو سره مخالفت لري، انسان له صحيح دين څخه اړوي. له همدې امله د شيطان د دښمنۍ پېژندل او د هغه د وسوسو او چلونو په اړه پوهېدل د هر مسلمان لپاره مهم دي.

-د دې دښمن پروړاندې الله تعالى خپل بندګان بې وسه نه دي پرېښي، بلکې د ساتنې او ژغورنې لپاره يې ګڼ شرعي اسباب ورښودلي دي. په دې رساله کې د همدې اسبابو او حفاظتي لارو تفصيل وړاندې شوی دی؛ لکه اخلاص، د قرآن کريم تلاوت، آيت الکرسي، د سورة البقرة وروستي دوه آيتونه، د معوذتينو لوستل، د الله تعالى ډېر ذکر، تسميه، استعاذه، د سهار او ماښام اذکار، د شپې لمونځ، توبه او استغفار، پر الله تعالى توکل او تمسک، د نېغې لارې پيروي او نور مشروع اعمال.

ketabton.com - The Digital Library

-همدارنګه په دې رساله کې هغه حالتونه هم بیان شوي چې مسلمان باید پکې ځانګړې پاملرنه وکړي؛ لکه له کوره د وتلو پر مهال، د خوب پر مهال، د خوړو پر مهال، تشناب ته د ننوتلو پر مهال، د غوسې پر وخت، د لمانځه پر مهال، د شیطاني وسوسو د احساس پر مهال او د وږوونکو خوبونو په لیدلو کې. د جماعت، د لمانځه د صفونو د برابرولو، د سترې په لوري د لمانځه، په تشهد کې د شهادت د ګوتې د اشارې او د مسلمانانو د یووالي په اړه هم د شیطان د مخنیوي اړوند مهمې لارښوونې وړاندې شوې دي.

-د کور ساتنې ته هم ځانګړې پاملرنه شوې ده؛ ځکه کور د انسان د ژوند مهم مرکز دی. په دې برخه کې کور ته د ننوتلو پر مهال د الله تعالی ذکر، پر کورنۍ سلام اچول، د اطاعت او عبادت په وسیله د کور آبادول، له هغو چارو څخه ځان ساتل چې د شیطان د نفوذ سبب ګرځي، او له نامشروعو غږونو، لهو او نورو زیانمنو شیانو څخه د کور پاک ساتل بیان شوي دي.

-د دې رسالې موخه دا ده چې مسلمان باید د خپل اصلي دښمن له دښمنۍ څخه خبر شي، د هغه د وسوسو او چلونو لارې وپېژني د قرآن کریم او نبوي سنتو له لارښوونو سره سم د ځان د ساتنې عملي لارې زده کړي. یوازې د شیطان د دښمنۍ پېژندل بسنه نه کوي؛ بلکې انسان باید د هغه پر وړاندې په ایمان، اخلاص، عبادت، ذکر، دعا، توبه او د الله تعالی په اطاعت کې ثابت پاتې شي.

-نو دا رساله هڅه کوي چې د شیطان د دښمنۍ مهم اړخونه، د هغه شرونه، د انسان د ګمراه کولو لارې او د هغه پر وړاندې شرعي حفاظتي لارې په منظم ډول راتولې کړي، څو لوستونکی وکولای شي د خپل ورځني ژوند په بېلابېلو حالاتو کې له دې لارښوونو څخه ګټه واخلي او د الله تعالی په مرسته ځان او خپله کورنۍ د شیطاني وسوسو او فتنو څخه وساتي.

په درنښت

محمد بشیر مدني

ketabton.com - The Digital Library

دليکوال سريزه

-إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَسَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

-بېشکه ټولې ستاينې د الله تعالی لپاره دي؛ مونږ د هغه ستاينه کوو، له هغه څخه مرسته غواړو او له هغه څخه بښنه غواړو .او د خپلو نفسونو له شرونو او د خپلو اعمالو له بديو څخه په الله تعالی پناه غواړو .څوک چې الله تعالی هدايت کړي، هېڅوک يې ګمراه کوونکی نشته؛ او څوک چې الله تعالی يې ګمراه کړي، هېڅوک ورته لارښوونکی نشته.

-او زه شاهدي ورکوم چې له الله تعالی پرته بل هېڅ د عبادت وړ معبود نشته، هغه يو دی او هېڅ شريک نه لري؛ او شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی.

- وروسته:

-د شيطان د دښمنۍ يادونه :

- بېشکه ترټولو رښتينې خبره د الله تعالی کتاب دی، او ترټولو غوره لارښوونه د محمد ﷺ لارښوونه ده. ترټولو بد کارونه هغه دي چې وروسته نوي رامنځته شوي وي؛ ځکه هر نوی رامنځته شوی کار بدعت دی، هر بدعت ګمراهي ده، او هره ګمراهي يې د دوزخ لوري ته بيايي.
- بېشکه الله تعالی انسان په داسې يوه دښمن ازمويلی دی چې د سترګې د رپ په اندازه هم تري نه بېلېږي؛ داسې دښمن چې د انسان په اړه هېڅکله نه ويده کېږي او نه تري غافلېږي. شيطان او د هغه ډله انسان له داسې ځايه ويني چې انسان يې نه شي ليدلای.
- شيطان په هر حالت کې د انسان د ګمراه کولو او زيانمنولو لپاره خپله ټوله هڅه کوي. هر هغه کار چې د انسان د زيان او هلاکت لپاره يې کولی شي، هېڅ تري نه سپموي، بلکې ترسره کوي يې. د انسان پر وړاندې د جنياتو له شيطانانو او انسي شيطانانو څخه خپل ملګري او مرسته کوونکي هم راټولوي.

ketabton.com - The Digital Library

- له همدې امله يې د انسان لپاره ببلابېل دامونه غورولي، د هلاکت لارې يې ورته هوارې کړې، شاوخوا يې جالونه خپاره کړي او په هره لاره کې يې ورته تلکې او کمينونه نيولي دي.

او خپلو ګمراه کوونکو ملګرو ته يې داسې ويلي دي:

-د شيطان د دښمنۍ په اړه نصيحت :

-ستاسو او ستاسو د پلار دښمن مو مخې ته دی؛ نو مه پرېږدئ چې له تاسو وتښتي. داسې نه شي چې د هغه برخه جنت وي او ستاسو برخه دوزخ؛ د هغه برخه د الله تعالی رحمت وي او ستاسو برخه لعنت.

- شيطان خپلو پيروانو ته وايي : هغه ذلت، لعنت او د الله تعالی له رحمته لرېوالی چې مور پرې اخته شوي يو، د همدې انسان له امله دی. نو هڅه وکړئ چې هغه هم زمور په دې بدمرغۍ او مصيبت کې شريک کړئ؛ ځکه مور د دوی له نېکانو سره په جنت کې د يوځای کېدو له نعمت څخه محروم شوي يو.

-الله تعالی مور ته د خپل دغه دښمن په اړه له دې ټولو خبرو څخه خبر راکړی او امر يې کړی چې د هغه پروراندې ځان چمتو کړو او د مقابلې لپاره لازم تياری ونيسو.

-الله تعالی په خپل کتاب کې د ابليس او آدم عليه السلام کيسه څو ځله بيان کړې ده، څو دا کيسه تل زمور د سترګو مخې ته وي او مور هر وخت د خپل دښمن له دښمنۍ څخه خبر او هوښيار واوسو.[1]

-کله چې په دې زمانه کې خلک له خپل لومړي او اصلي دښمن، يعنې شيطان، څخه غافل شوي دي؛ نو الله تعالی ماته توفيق راکړ چې دا ليکنه راټوله کړم، څو د شيطان د دښمنۍ يادونه وکړم او خلک د هغه پر وراندې مبارزې ته وهڅوم.

-له الله تعالی څخه هيله لرم چې لومړی ما ته د دې ليکنې له لارې ګټه ورسوي، او بيا هغو ټولو مسلمانانو ته هم چې دا ليکنه لولي.

[1] - الداء والدواء، ص ١٤٨. ١٤٩(، د دار ابن الجوزي چاپ.

ketabton.com - The Digital Library

أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ أَنْ يَتَقَبَّلَهُ بِقَبُولٍ حَسَنٍ، إِنَّهُ سَمِيعٌ مُجِيبٌ.

د خپل رب د بښنې هیله من:

عبد الهادي بن حسن وهبي.

ketabton.com - The Digital Library

د انسان پروراندې د شيطان د دښمنۍ پېژندنه :

-الله تعالى په خپل حكمت سره پر بنده داسې يو دښمن مسلط كړى دى چې د هغه د هلاكت پر لارو او هغو شرونو ښه پوهېږي چې غواړي بنده پكې واچوي .هغه په دې لارو كې ډېر ماهر او په هغو ښه پوه دى، او د بنده د ګمراه كولو لپاره ډېر حريص دى؛ نه په ويښه ستړى كېږي او نه په خوب كې.

-له همدې امله په قرآن كريم كې د دې دښمن، د هغه د حالت، لښكرو او چلونو ډېر زيات ذكر شوى دى؛ ځكه انسانان دې ته اړتيا لري چې خپل دښمن وپېژني او د هغه د مقابلې او مبارزې لارې زده كړي.

قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿وَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا﴾[2]

ژباړه :الله تعالى فرمايي»: بېشكه شيطان ستاسو دښمن دى، نو هغه دښمن ونيسئ«.

- شيطان د دښمن ګڼلو امر دې ته متوجه كوي چې انسان بايد د هغه په مقابل كې د مبارزې او مجاهدې لپاره خپله ټوله هڅه وكړي؛ ځكه هغه داسې دښمن دى چې د بنده په مقابل كې د هرې سا په اندازه هم له مبارزې نه ستړى كېږي او نه پكې كوتاهي كوي.[3]

-الله تعالى مور ته د شيطان او زمور د پلار آدم عليه السلام ترمنځ د دښمنۍ داسې پېښه بيان كړې چې ډېر لوى درس پكې دى .شيطان وتوانېد چې آدم عليه السلام د ونې د مېوې خوړلو ته وهڅوي، په خپلو دروغو او فريب سره يې له جنت څخه وباسي، او د الله تعالى د امر په مخالفت او د هغه د منع شوي كار په ترسره كولو كې يې واچوي.

-**ثُمَّ قَالَالله تعالى عَقِبَ ذَلِكَ:** ﴿يَا بَنِي آدَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ كَمَا أَخْرَجَ أَبَوَيْكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ يَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْآتِهِمَا إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ﴾ [4]

-**ژباړه :**بيا الله تعالى وفرمايل»: اې د آدم اولادې !شيطان دې تاسو په فتنه كې وانه چوي، لكه څنګه چې يې ستاسو مور او پلار له جنت څخه وايستل؛ د هغوى جامې يې ترې ليرې كړې، ترڅو د هغوى عورتونه ورته ښكاره كړي .بېشكه هغه او د هغه ډله تاسو له داسې ځايه وينې چې تاسو يې نه وينئ.

---

[2] - فاطر :٦.

[3] -(زاد المعاد) ٣/٦.

[4] - أعراف :٢٧.

ketabton.com - The Digital Library

-وقال تَعَالَى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ وَمَنْ يَتَّبِعْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ﴾ [5]

ژباړه:

-او الله تعالى فرمايي» :اې مؤمنانو !د شيطان د قدمونو پيروي مه کوئ؛ او څوک چې د شيطان د قدمونو پيروي وکړي، نو بېشکه هغه په فحشا او منکر امر کوي.

-يعني :هغه لارې مه نيسئ چې شيطان مو ورته رابولي؛ ځکه هغه د» فحشا «امر کوي، او فحشا د لويو ګناهونو لپاره کارول کېږي؛ او د» منکر «امر کوي، چې له لويو ګناهونو څخه ټيټ نور ګناهونه دي .نو هره ګناه د شيطان له قدمونو څخه ده؛ که هغه د منع شوي کار په ترسره کولو کې وي او يا د امر شوي کار په پرېښودلو کې، په دواړو صورتونو کې د شيطان له قدمونو څخه ګڼل کېږي. [6]

-قَالَ عُمَرُ رضي الله عنه لَمَّا قُرِئَتْ عَلَيْهِ الْآيَةُ: ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ﴾ [7]

فَقَالَ» :انْتَهَيْنَا، انْتَهَيْنَا.

-د آيت ژباړه :

-شيطان يوازې دا غواړي چې د شرابو او قمار له لارې ستاسو ترمنځ دښمني او کينه پيدا کړي، او تاسو د الله تعالى له ذکر او لمانځه څخه راوګرځوي. نو آيا تاسو له دې کارونو څخه لاس اخلئ؟

عمر رضي الله عنه وويل :

-ژباړه :بس مو ږپرېښودل، بس مو ږپرېښودل«!

يعني :مو ږ له دې کاره منع شوو او نور به يې نه کوو.

-پر مؤمن لازمه ده چې کله پوه شي چې يو کام يې د شيطان له لارو څخه دی، نو سمدستي د ترې ځان لرې کړي او خپل قدم د رښا او هدايت لارې ته واړوي. همدارنګه بايد ځان د شيطان له

[5] - النور :٢١.

[6] - شرح السنة للبغوي) ٤٠٤/١٤

[7] - المائدة :٩١

ketabton.com - The Digital Library

هر ډول چل، فريب او وسوسې څخه وساتي. لکه څنګه چې حضرت عمر رضي الله عنه ته چې دا آيت ولوستل شو، ويې ويل: «بس مور پرېښود، بس مور پرېښود!». [8]

-وقالَ اللهُ تَعَالَى:﴿وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ ۚ إِنَّمَا يَأْمُرُكُمْ بِالسُّوءِ وَالْفَحْشَاءِ وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾ [9]

-ژباړه :الله تعالى فرمايي: د شيطان د قدمونو پيروي مه کوئ؛ ښېشکه هغه ستاسو ښکاره دښمن دی. هغه تاسو ته يوازې د بدۍ او فحشا امر کوي، او دا هم درته وايي چې د الله تعالى په اړه هغه څه ووايئ چې پرې نه پوهېږئ.

-الله تعالى مؤمنان په ټينګه له هغو لارو څخه منع کړي چې شيطان ورته بلنه ورکوي، او دا ټولې د ګناه لارې دي. الله تعالى هغوی ته دا هم ورپه ياد کړي چې شيطان يې ښکاره دښمن دی او تل يې د بدو کارونو پرلور رابولي.

-له عادي ګناهونو څخه لا سترې او درنې ګناهونه فحشا ده؛ لکه زنا، شراب څښل، قتل، پر پاکو او بې ګناه خلکو د زنا تور لګول او بخل.

-خو تر دې ټولو هم لوی جرم دا دی چې انسان د الله تعالى په اړه له علم او پوهې پرته خبرې وکړي.

-نو څوک چې الله تعالى په داسې صفتونو سره بيان کړي چې الله تعالى خپل ځان پرې نه وي بيان کړی، او نه رسول الله ﷺ بيان کړي وي؛ يا هغه څه له الله تعالى څخه رد کړي چې الله تعالى د خپل ځان لپاره ثابت کړي وي. لکه هغه څوک چې د الله تعالى پر عرش باندې لوړوالی ردوي. نو ښېشکه هغه د الله تعالى په اړه له علم او پوهې پرته خبره کړې ده.

-او څوک چې له علم او روښانه دليل پرته ووايي: «الله تعالى فلانی شی حلال کړی، يا يې فلانی شی حرام کړی، يا يې په فلاني کار امر کړی، او يا يې له فلاني کاره منع کړې ده»؛ نو ښېشکه هغه د الله تعالى په اړه له علم او پوهې پرته خبره کړې ده.

-د الله تعالى په اړه له علم پرته د خبرو له ترټولو لويو ښو څخه يوه دا ده چې څوک د الله تعالى کلام په خپل سر تأويل کړي، يا د رسول الله ﷺ ويناوې له ځانه تعبير کړي. ښلګه يې هغه -

[8] - أخرجه الترمذي) ٣٠٤٩(، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن الترمذي) ٢٤٤٢.

[9] - البقرة :١٦٨-١٦٩

ketabton.com - The Digital Library

څوک دی هغه چې د الله تعالی د نزول حدیث تأویلوي او وایي: «الله تعالی له نزول څخه پاک دی؛ بلکې د هغه امریا رحمت راکوزېږي، یا له ملائکو څخه یوه فرښته راکوزېږي.»

-نو پر الله تعالی له علم پرته خبرې کول تر ټولو سترو او پراخو حرامو کارونو څخه دي، او د شیطان له هغو سترو لارو څخه یوه ده چې خلک پرې ګمراه کوي.[10]

-قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ وَاللهُ يَعِدُكُمْ مَغْفِرَةً مِنْهُ وَفَضْلًا وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾ [11]

-ژباړه :الله تعالی فرمایي» :شیطان تاسو ته د فقر او ببوزلۍ وعده درکوي او تاسو ته د فحشا امر کوي؛ خو الله تعالی له خپل لوري د مغفرت او فضل وعده ورکوي، او الله تعالی پراخ فضل لرونکی او په هر څه پوه دی.

-یعنې :شیطان تاسو له فقر او اړتیا څخه وېروي، کله چې تاسو د الله په لار کې مال مصرفوئ؛ او تاسو ته د فحشا امر کوي، او دلته له فحشا څخه مراد بخل دی، چې له تر ټولو ناوړه بدو خویونو څخه دی.

-عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ :قَالَ رَسُولُ اللهِ» :ﷺ مَنْ سَيِّدُكُمْ يَا بَنِي سَلِمَةَ؟ «قُلْنَا :جَدُّ بْنُ قَيْسٍ، عَلَى أَنَّا نَبْخَلُهُ .قَالَ» :وَأَيُّ دَاءٍ أَدْوَى مِنَ الْبُخْلِ؟[12]

-ژباړه :له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل» :اې د بني سلمه خلکو !ستاسو مشر څوک دی؟ «مورِ وویل :جد بن قیس، خو هغه مو بخیل ګڼلو .رسول الله ﷺوفرمایل» :له بخل څخه کومه ناروغي ډېره خطرناکه ده؟«

-د شیطان له خوا د فقر وعده ورکول د انسان سره د خواخوږۍ یا خیرخواهۍ له امله نه دي؛ بلکې هغه انسان له فقر څخه وېروي او بخل ته یې رابولي، ترڅو د خپل رب په اړه بدګمانه شي او د الله تعالی د رضا لپاره هغه څه ونه لګوي چې الله یې خوښوي، او په پایله کې د خیر او اجر له محرومیت سره مخ شي.

---

[10] - تیسیر الکریم الرحمن) ص ۸۱(، طبعة مؤسسة الرسالة.

[11] - البقرة :۲٦۸

[12] - أخرجه البخاري في الأدب المفرد) ۲۹٦(، وصححه الألباني رحمه الله في» صحيح الأدب المفرد) «۲۲۷).

ketabton.com - The Digital Library

-خو الله تعالى خپل بنده ته د ګناهونو د بښنې وعده ورکوي او د خپل فضل وعده هم ورکوي؛ يعنې هغه څه چې بنده يې مصرف کړي، الله تعالى به يې په دنيا کې، يا په دنيا او آخرت کې، تر هغه هم په ډېر مقدار او څو چنده ببرته ور کړي.[13]

-دا د الله تعالى وعده ده او هغه د شيطان وعده ده .نو بخيل او لګښت کوونکى دې وګوري چې له دې دواړو وعدو څخه کومه يوه ډېره باورې ده، او د کومې وعدې په اړه يې زړه ډاډه او نفس يې مطمئن کېږي؟ الله تعالى چې چا ته وغواړي توفيق ورکوي او چې چا ته وغواړي پرېږدي؛ او هغه پراخ فضل لرونکى او په هر څه پوه دى.

-قالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ﴾ [14]

-ژباړه :الله تعالى فرمايي» :او تاسو چې هر څه ولګوئ، هغه به يې بدله درکړي، او هغه تر ټولو غوره روزي ورکوونکى دى.

-نو اې د الله بندګانو !له الله څخه ووېرېږئ، پر خپل ستر مولى او رب باور وکړئ چې ستاسو د مصرف شوي مال بدله به درکړي، او د هغه شيطان اطاعت مه کوئ چې تاسو ته د فقر او تباهۍ وعده درکوي.

-د شيطان له شرونو څخه يو دا دى چې بنده ته وسوسې اچوي .وسوسه د شيطان له تر ټولو مهمو ځانګړنو څخه ده، له ټولو ډېر شر لري، اغېز يې ډېر پياوړى دى او فساد يې ډېر پراخ دى؛ او وسوسه د هرې ګناه او بلا له بنسټونو څخه ده.

-عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ :جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ :يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ أَحَدَنَا يَجِدُ فِي نَفْسِهِ .يُعَرِّضُ بِالشَّيْءِ .لَأَنْ يَكُونَ حُمَمَةً أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ أَنْ يَتَكَلَّمَ بِهِ .فَقَالَ» :اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ، الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي رَدَّ كَيْدَهُ إِلَى الْوَسْوَسَةِ[15]

-ژباړه :له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چې يو سړى رسول الله ﷺ ته راغى او ويې ويل:

-اې د الله رسوله! زموږ په زړونو کې کله داسې وسوسې او خبرې راځي .هغه يې په اشاره بيانولې .چې دا موتردې هم غوره ګڼي چې په سکروټو بدل شو، خو دا خبرې په ژبه نه راوړو.»

---

[13] - طريق الهجرتين) ص ٥٥٤(،] طبعة دار ابن القيم، الطبعة الثانية .

[14] - سبأ :٣٩.

[15] - (أخرجه أبو داود) ٥١١٢(، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن أبي داود) ٤٢٦٤

ketabton.com - The Digital Library

رسول الله ﷺ وفرمايل:

«الله اكبر! الله اكبر! الله اكبر! ټولې ستاينې د الله لپاره دي چې د خپل دښمن مكر او چل يې يوازې تروسوسې پورې محدود كړی دی.

-وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ :جَاءَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ فَسَأَلُوهُ :إِنَّا نَجِدُ فِي أَنْفُسِنَا مَا يَتَعَاظَمُ أَحَدُنَا أَنْ يَتَكَلَّمَ بِهِ .قَالَ» :وَقَدْ وَجَدْتُمُوهُ؟ «قَالُوا :نَعَمْ .قَالَ» :ذَاكَ صَرِيحُ الْإِيمَانِ[16]

-ژباړه: له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ څينې صحابه راغلل او ويې ويل: زمونږ په زړونو كې داسې وسوسې او خبرې راځي چې له ويلو يې ډېر شرمېږو او ډېرې درنې يې ګڼو.

رسول الله ﷺ وفرمايل: «ايا تاسو په رښتيا دا ډول خبرې په خپلو زړونو كې مومئ؟»

هغوی وويل: هو. رسول الله ﷺ وفرمايل: «دا خالص ايمان دی.

-د دغو وسوسو راتلل، سره له دې چې انسان يې په زړه كې سخت بد ګڼي او له خپل زړه څخه يې دفع كوي، د خالص ايمان له نښو څخه دي .د داسې انسان مثال د هغه مجاهد په څېر دی چې دښمن پرې حمله كوي، خو دی ورسره مبارزه كوي تر دې چې مات يې كړي .دا لويه مجاهده ده، او» صريح «يعنې خالص ايمان دی؛ لكه خالصې شيدې.

-دا ځكه صريح او خالص ايمان وګرځېد چې هغوی شيطاني وسوسې بدې وګڼلې او له ځانه يې دفع كړې؛ نو ايمان يې خالص شو او صريح وګرځېد .ټولې ستاينې د هغه الله لپاره دي چې د شيطان د چل وروستۍ كچه يوازې وسوسه وه.

-د شيطان له شرونو څخه يو دا دی چې هغه غل دی. هغه د خلكو له مالونو څخه غلا كوي. هر هغه خواړه يا څښاک چې د خوړلو يا څښلو پر مهال د الله تعالى نوم پرې ونه ويل شي، شيطان برخه تري اخلي.

-عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه قَالَ :قَالَ رَسُولُ اللهِ» :ﷺ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَسْتَحِلُّ الطَّعَامَ أَنْ لَا يُذْكَرَ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ.[17]

[16] -(أخرجه مسلم) ١٣٢ .

[17] - أخرجه مسلم) ٢٠١٧

ketabton.com - The Digital Library

-ژباړه :-له حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل» :شيطان هغه خواړه خپل حق ګڼي چې د خوړلو پر مهال پرې د الله تعالى نوم نه وي اخيستل شوى.

-عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ :سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ» :إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَلَكِنْ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ. [18]

-ژباړه :-له جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چې ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل، ويې فرمايل» :بېشكه شيطان په دې اړه نااميده شوى چې لمونځ كوونكي به يې په جزيره العرب كې عبادت وكړي؛ خو د هغوى ترمنځ د شخړو او دښمنيو په اچولو كې يې هيله شته.

-وَعَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ :قَالَ رَسُولُ اللهِ» :ﷺ إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ، ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ، فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً، يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ :فَعَلْتُ كَذَا وَكَذَا، فَيَقُولُ :مَا صَنَعْتَ شَيْئًا .قَالَ :ثُمَّ يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ :مَا تَرَكْتُهُ حَتَّى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ، قَالَ : فَيُدْنِيهِ مِنْهُ وَيَقُولُ :نِعْمَ أَنْتَ. [19]

ژباړه :- له جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل» :ابليس خپل تخت پر اوبو ږدي، بيا خپل لښكرې او ډلې استوي .له هغوى څخه هغه څوك چې د ابليس په نزد تر ټولو نږدې مقام ولري، هغه دى چې تر ټولو ستره فتنه او فساد پې رامنځته كړى وي .يو له هغوى څخه راشي او ووايي :ما داسې او داسې وكړل .ابليس ورته وايي :تا هېڅ كار نه دى كړى. بيا بل راشي او ووايي :ما هغه كس تر هغه نه دى پرېښى، څو مې د هغه او د هغه د مېرمنې ترمنځ بېلتون نه وي راوستى .نو ابليس هغه ځان ته نږدې كړي او ورته وايي :ته ډېر ښه يې«!

-وَقَوْلُهُ» :نِعْمَ أَنْتَ «مَوْضُوعَةٌ لِلْمَدْحِ، فَيَمْدَحُهُ لِإِعْجَابِهِ بِصُنْعِهِ وَبُلُوغِهِ الْغَايَةَ الَّتِي أَرَادَهَا[20]

-ژباړه :-د ابليس دا خبره چې» ته ډېر ښه يې «د ستاينې لپاره ده .هغه څكه خپل پيرو ستايي چې د هغه له كاره خوښ شوى وي او هغه هدف ته يې رسولى وي چې ابليس غوښتل.

[18] - أخرجه مسلم) ٢٨١٢.
[19] - أخرجه مسلم) ٢٨١٣
[20] (:-صحيح مسلم بشرح النووي) ١٥٧/١٧

ketabton.com - The Digital Library

-د شيطان له شرونو څخه :

١ .«له الله تعالى څخه د نافرمانۍ په موخه وتل»

-عن أبي هريرة قال :قال رسول الله:ﷺ ما من خارج يخرج، يعني من بيته، إلا ببابه رايتان :راية بيد ملك، وراية بيد شيطان، فإن خرج لما يحب الله اتبعه الملك برايته، فلم يزل تحت راية الملك حتى يرجع إلى بيته، وإن خرج لما يسخط الله اتبعه الشيطان برايته، فلم يزل تحت راية الشيطان حتى يرجع إلى بيته.[21]

يعني :د شيطان له شرونو څخه دا هم دی چې کله بنده د داسې کار لپاره له کوره ووځي چې الله تعالى يې نه خوښوي، نو د هغه دښمن . شيطان . ورته نږدې کېږي؛ هغه دښمن چې د هغه بدمرغي او فساد د ده په نږدېوالي او ملګرتيا کې دی.

-دحديث شريف ژباړه : له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»هر هغه څوک چې له خپل کوره بهر وځي، د هغه د کور په دروازه کې دوه بيرغونه وي :يو بيرغ د يوې فرښتې په لاس کې وي او بل د شيطان په لاس کې .که هغه د داسې کار لپاره ووځي چې الله يې خوښوي، فرښته د خپل بيرغ سره د هغه پيروي کوي او تر هغه پورې د فرښتې تر بيرغ لاندې وي چې ببرته خپل کور ته راوګرځي .او که د داسې کار لپاره ووځي چې الله پرې ناراضه کېږي، شيطان د خپل بيرغ سره د هغه پيروي کوي او تر هغه پورې د شيطان تر بيرغ لاندې وي چې ببرته خپل کور ته راوګرځي.

٢ .د الله تعالى د رضا لپاره له کوره وتل :

-عن أبي هريرة قال :بينما نحن مع رسول الله ﷺ إذ طلع شاب من الثنية، فلما رأيناه رميناه بأبصارنا، فقلنا :لو أن هذا الشاب جعل شبابه ونشاطه وقوته في سبيل الله !فسمع رسول الله ﷺمقالتنا فقال:وما سبيل الله إلا من قُتل؟ من سعى على والديه ففي سبيل الله، ومن سعى على عياله ففي سبيل الله، ومن سعى على نفسه يعفها فهو في سبيل الله، ومن سعى مكاثرًا ففي سبيل الشيطان.[22]

[21] ـ مسند أحمد، ٣٢٣/٢، حديث ٨٢٩٦؛ سند يې صحيح بلل شوی.
[22] ـ البزار، *كشف الأستار*، حديث ١٨٧١؛ أبو نعيم، *حلية الأولياء*، ١٩٦/٦-١٩٧؛ حديث په *السلسلة الصحيحة* کې د ٢٢٣٢ شمېرې سره هم ذکر شوی.

ketabton.com - The Digital Library

-نو ای زما وروره !هڅه وکړه چې ستا له کوره وتل د حق او د الله تعالی د رضا لپاره وي؛ لکه د علم د زده کړې لپاره، د خپلوانو د اړیکو پاللو لپاره، د ناروغ د پوښتنې لپاره، دالله په لارکې د خپل مسلمان ورور د لیدلو لپاره، د هغه د اړتیا اوضرورت د پوره کولو لپاره، د جنازې د ګډون لپاره او د جماعت د لمانځه د ادا کولو لپاره.

-دحدیث شریف ژباړه : له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، وایي :مورږ له رسول الله ﷺسره ناست وو چې یو ځوان له هغې لارې راښکاره شو .کله مو چې ولید، سترګې مو وروړولې او ومو ویل :کاشکې دا ځوان خپله ځواني، نشاط او ځواک د الله په لار کې لګولی وای!

-رسول الله ﷺ زمورږ خبره واوربده او ویې فرمایل:

-ایا د الله لاره یوازې دا ده چې څوک ووژل شي؟ !څوک چې د خپل مور او پلار د خدمت او پالنې لپاره هڅه کوي، هغه د الله په لار کې دی؛ څوک چې د خپلې کورنۍ د روزنې لپاره هڅه کوي، هغه د الله په لار کې دی؛ څوک چې د خپل ځان د پاک ساتلو لپاره هڅه کوي، هغه د الله په لار کې دی؛ او څوک چې د زیاتولو او د دنیا د سیالۍ لپاره هڅه کوي، هغه د شیطان په لار کې دی.

۳.شیطان د انسان په تعقیب کې نه ستړی کیږي :

-عن أبي سعيد رضي الله عنه قال :قال رسول الله:ﷺ إن الشيطان قال :وعزتك يا رب لا أبرح أغوي عبادك ما دامت أرواحهم في أجسادهم .فقال الرب :وعزتي وجلالي لا أزال أغفر لهم ما استغفروني.«[23]

يعني : د شیطان له شرونو څخه یو دا دی چې هغه په ډېر کلك او سخت ډول انسان په هر حالت کې تعقیبوي، له هرې خوا او هرې لارې پرې راځي او په هر وخت کې یې په خپل جال کې د اچولو هڅه کوي.

-دحدیث شریف ژباړه : له ابو سعید رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

»شیطان وویل :ستا په عزت قسم، ای زما ربه !تر هغه پورې به ستا بندګان ګمراه کوم، څو چې د هغوی روحونه په بدنونو کې وي .الله تعالی وفرمایل :زما په عزت او جلال قسم، تر هغه پورې به هغوی ته بښنه کوم، څو چې له ما څخه بښنه غواړي.

[23] - الحاكم، ۲۶۱/۴؛ الألباني په *صحيح الجامع*، حديث ۱۶۵۰ کې حسن بللی دی.

ketabton.com - The Digital Library

۴ . شيطان د نوي زېږېدلي ماشوم سره دښمني پيلوي :

-عن أبي هريرة رضي الله عنه قال :قال رسول الله:ﷺ

»ما من مولود يولد إلا والشيطان يمسه حين يولد، فيستهل صارخًا من مس الشيطان إياه، إلا مريم وابنها.«

-واقرؤوا إن شئتم:﴿وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ﴾ [24]

يعني : د شيطان له شرونو څخه دا هم دي چې کله ماشوم له مور څخه وزېږي، شيطان ورسره دښمني پيلوي او هغه لمس کوي؛ دا د هغه د کينې او غوسې له امله وي او غواړي له نوي زېږېدلي ماشوم سره د خپلې جګړې پيل اعلان کړي.

-دحديث شريف ژباړه : له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»هر ماشوم چې وزېږي، شيطان يې د زېږېدو پر مهال لمس کوي؛ نو ماشوم د شيطان د لمس له امله په چيغو پيل کوي، پرته له مريم او د هغې له زوی څخه.

-که وغواړئ، دا آيتشريف ولولئ:

-﴿ زه هغه او د هغې اولاد تا ته سپارم، څو يې له رټل شوي شيطان څخه وساتې.﴾ عمران :

۵ . د وېروونکو خوبونو له لارې د مؤمن غمجنول :

-عن عوف بن مالك رضي الله عنه قال :قال رسول الله :ﷺ إن الرؤيا ثلاث :منها أهاويل من الشيطان ليحزن بها ابن آدم، ومنها ما يهم به الرجل في يقظته فيراه في منامه، ومنها جزء من ستة وأربعين جزءًا من النبوة. [25]

-يعني : د شيطان له شرونو څخه يو دا دی چې انسان ته بد او وېرونکي خوبونه ورښيي، څو هغه ووېروي، خپه او غمجن يې کړي؛ ځکه شيطان د مؤمن په غمجنېدو ډېر خوشحالېږي.

-دحديث شريف ژباړه : له عوف بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

-خوبونه درې ډوله دي:

[24] - آل عمران.36 :/ صحيح البخاري، حديث ۴۵۴۸.

[25] - ابن ماجه، حديث ۳۹۰۷؛ الألباني په *صحيح سنن ابن ماجه* کې صحيح بللی دی.

ketabton.com - The Digital Library

- لومړی ډول هغه وېرونکي خوبونه دي چې شيطان يې انسان ته د دې لپاره ورښيي چې هغه ووېروي او غمجن يې کړي.
- دويم ډول هغه خوبونه دي چې انسان د ورځې په ويښه کې د کوم شي په اړه فکر کوي او بيا يې په خوب کې وينې.
- درېيم ډول هغه نېک خوبونه دي چې د نبوت له شپږ څلوېښتو برخو څخه يوه برخه ګڼل کېږي.

۶. په خوب کې د شيطان لوبې :

-وعن جابر قال :جاء رجل إلى النبي ﷺ فقال :يا رسول الله، رأيت في المنام كأن رأسي قطع، فضحك النبي ﷺ وقال:

»إذا لعب الشيطان بأحدكم في منامه فلا يحدث به الناس.«[26]

ژباړه:

-له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی، يو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او ويې ويل :ای د الله رسوله !ما په خوب کې وليدل چې ګواکې زما سر پرې شوی وی.

رسول الله ﷺ وخندل او ويې فرمايل:

»کله چې شيطان ستاسو له يوه کس سره په خوب کې لوبې وکړي، نو هغه خوب دخلکو ته نه بيانوي.

۷. شيطان غواړي انسان د خير له کارونو څخه هېر کړي :

- د شيطان له شرونو څخه يو دا دی چې انسان له هغو نېکو کارونو څخه غافلوي او ترې هېروی يې چې د هغه لپاره خير او ګټه لري.

-د عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»خَصْلَتَانِ أَوْ خَلَّتَانِ لَا يُحَافِظُ عَلَيْهِمَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ، هُمَا يَسِيرٌ وَمَنْ يَعْمَلُ بِهِمَا قَلِيلٌ :يُسَبِّحُ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ عَشْرًا وَيَحْمَدُ عَشْرًا وَيُكَبِّرُ عَشْرًا، فَذَلِكَ خَمْسُونَ وَمِائَةٌ بِاللِّسَانِ وَأَلْفٌ وَخَمْسُمِائَةٍ فِي الْمِيزَانِ، وَيُكَبِّرُ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ، وَيَحْمَدُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ،

[26] - صحيح مسلم، حديث ۲۲۶۸.

ketabton.com - The Digital Library

وَيُسَبِّحُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، فَذَلِكَ مِائَةٌ بِاللِّسَانِ وَأَلْفٌ فِي الْمِيزَانِ، فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَعْقِدُهَا بِيَدِهِ .قَالُوا :يَا رَسُولَ اللهِ، كَيْفَ هُمَا يَسِيرٌ وَمَنْ يَعْمَلُ بِهِمَا قَلِيلٌ؟ قَالَ» :يَأْتِي أَحَدَكُمْ فِي مَنَامِهِ . يَعْنِي الشَّيْطَانُ .فَيُنَوِّمُهُ قَبْلَ أَنْ يَقُولَهَا، وَيَأْتِيهِ فِي صَلَاتِهِ فَيُذَكِّرُهُ حَاجَتَهُ قَبْلَ أَنْ يَقُولَهَا .[27]

ژباړه:

-دوه خصلتونه، يا دوه کارونه داسې دي چې که يو مسلمان پرې همېشه پابند پاتې شي، جنت ته به داخل شي .دا دواړه ډېر آسانه دي، خو عمل کوونکي يې لږ دي .د هر لمانځه وروسته لس ځله» سبحان الله«، لس ځله» الحمد لله «او لس ځله» الله اکبر «ويل؛ نو په ژبه پنځوس او په تله کې زر او پنځه سوه کېږي .او کله چې خپلې بسترې ته ولاړ شي، څلور دېرش ځله» الله اکبر«، درې دېرش ځله» الحمد لله «او درې دېرش ځله» سبحان الله «ووايي؛ نو په ژبه سل او په تله کې زر کېږي .ما رسول الله ﷺ وليد چې دا يې په خپل لاس شمېرل.

-صحابه وو وويل :اې د الله رسوله !دا دواړه خو ډېر آسانه دي، بيا ولې پرې عمل کوونکي لږ دي؟ ويې فرمايل :ستاسې يو کس ته شيطان په خوب کې راځي او تر دې مخکې چې دا اذکار ووايي، هغه ويده کوي؛ او په لمانځه کې ورته راځي او تر دې مخکې چې دا اذکار ووايي، هغه ته يې خپلې اړتياوې ورپه زړه کوي.

8.شيطان انسان ته د هر کار پر مهال حاضرېږي :

-د شيطان بل شر دا دی چې کله انسان د هر ډول کار د ترسره کولو اراده وکړي، شيطان ورسره حاضرېږي، څو د هغه نيت، وينا او عمل خراب کړي.

-له جابر رضي الله عنه څخه د رسول الله ﷺ روايت دی:

-إِنَّ الشَّيْطَانَ يَحْضُرُ أَحَدَكُمْ عِنْدَ كُلِّ شَأْنٍ مِنْ شَأْنِهِ حَتَّى يَحْضُرَهُ عِنْدَ طَعَامِهِ، فَإِذَا سَقَطَتْ مِنْ أَحَدِكُمُ اللُّقْمَةُ فَلْيُمِطْ مَا كَانَ بِهَا مِنْ أَذًى، ثُمَّ لْيَأْكُلْهَا وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ، فَإِذَا فَرَغَ فَلْيَلْعَقْ أَصَابِعَهُ، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي فِي أَيِّ طَعَامِهِ تَكُونُ الْبَرَكَةُ .[28]

ژباړه:

-بېشکه شيطان ستاسو د هر کار پر مهال حاضرېږي، حتی د خوړو پر مهال هم درسره وي . نو که ستاسو له يوه کس څخه مړی ولوېږي، بايد هغه څه چټلي چې پرې لګېدلې وي لرې کړي

[27] - ابو داود، حديث ۵۰۶۵؛ الباني رحمه الله په» صحيح سنن أبي داود «کې صحيح بللی، حديث ۴۲۳۳.

[28] - صحيح مسلم، حديث ۲۰۳۳.

ketabton.com - The Digital Library

او بيا يې وخوري او شيطان ته يې پرېږدي .کله چې له خوړو فارغ شي، خپلې ګوتې د وڅټي؛ ځکه هغه نه پوهېږي چې د ده په کوم خوراک کې برکت ايښودل شوی دی.

9. شيطان د حق پر لار د انسان لپاره کمين نيسي:

-د شيطان بل شر دا دی چې هغه د آدم د اولاد لپاره د حق، هدايت او د نجات دهغې لارې پر سر ناست دی چې جنت ته يې رسوي؛ لکه څنګه چې غله د مسافرو لپاره کمين نيسي.

-الله تعالى فرمايي: ﴿قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ ۝ ثُمَّ لَآتِيَنَّهُمْ مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَائِلِهِمْ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَاكِرِينَ﴾[29]

ژباړه:

-ابليس وويل» :نو ځکه چې تا زه بې لارې کړم، زه به خامخا ستا پر نبغه لار د دوی لپاره کمين ونيسم .بيا به خامخا له دوی ځخه د دوی له مخې، له شا، له ښي اړخ او له چپ اړخ ځخه ورشم، او ته به د هغوی ډېر شکرګذار ونه مومې«.

-نو انسان چې هره لار ونيسي، شيطان به په هغې لار کې د ده لپاره څارونکی وي .که د اطاعت لار ونيسي، شيطان به پرې هماغه ځای کې د اطاعت په وړاندې خنډونه جوړوي، هغه به سستوي، له لارې به يې اړوي او يا به يې له نېک کاره منع کوي .خو که د ګناه لار ونيسي، شيطان به هلته د هغه ملګری، مرستندوی او هڅوونکی وي.[30]

10-. شيطان انسان د اسلام، هجرت او جهاد له لارې راګرځوي:

-له سبرة بن أبي فاكه رضي الله عنه ځخه روايت دی، وايي :ما له رسول الله ﷺ ځخه واوربدل چې ويې فرمايل:

»إِنَّ الشَّيْطَانَ قَعَدَ لِابْنِ آدَمَ بِأَطْرُقِهِ، فَقَعَدَ لَهُ بِطَرِيقِ الْإِسْلَامِ، فَقَالَ :تُسْلِمُ وَتَذَرُ دِينَكَ وَدِينَ آبَائِكَ وَآبَاءِ أَبِيكَ؟ فَعَصَاهُ فَأَسْلَمَ .ثُمَّ قَعَدَ لَهُ بِطَرِيقِ الْهِجْرَةِ، فَقَالَ :تُهَاجِرُ وَتَدَعُ أَرْضَكَ وَسَمَاءَكَ؟ فَعَصَاهُ فَهَاجَرَ .ثُمَّ قَعَدَ لَهُ بِطَرِيقِ الْجِهَادِ، فَقَالَ :تُجَاهِدُ فَهُوَ جَهْدُ النَّفْسِ وَالْمَالِ، فَتُقَاتِلُ فَتُقْتَلُ، فَتَنْكِحُ الْمَرْأَةُ وَيُقْسَمُ الْمَالُ؟ فَعَصَاهُ فَجَاهَدَ.«[31]

---

[29] -الأعراف :١٦–١٧ .

[30] - موارد الأمان«، ص ١٧٤–١٧٥.

[31] - نسائي، حديث ٣١٣٦؛ الباني رحمه الله په» صحيح سنن النسائي «کې صحيح بللی، حديث ٢٩٣٧

ketabton.com - The Digital Library

-ژباړه:شيطان د آدم د اولاد د تبر ايستلو لپاره د هغوی پر لارو کمين نيسي. لومړی د اسلام پر لار ورته کېني او ورته وايي: «ته اسلام راوړې او د خپلو پلرونو او نيکونو دين پرېږدې؟» خو انسان د شيطان خبره نه مني او اسلام قبلوي.

-بيا د هجرت پر لارورته کمين نيسي او وايي: «ته هجرت کوې، خپله ځمکه، کور او خپل ژوند پرېږدې؟» خو هغه د شيطان خبره نه مني او هجرت کوي.

-وروسته د جهاد پر لارورته کېني او وايي: «ته جهاد کوې؟ دا خو د ځان او مال لويه قرباني ده. کېدای شي ووژل شې، بيا به دې ښځه بل څوک وکړي او مال به دې ووېشل شي!» خو هغه د شيطان خبره نه مني او جهاد ته ځي.

11. شيطان انسان سستوي او کارونه سبا ته پرېږدي :

-ډېر داسې کسان شته چې د يوه مهم او جدي کار اراده کوي، خو شيطان يې سبا او بل سبا ته ځنډوي. همدارنګه، ډېر کسان چې د فضيلت او نېکۍ پر لور روان وي، شيطان يې سستوي. هغه تل انسان ته د سستۍ لاره غوره ښکاره کوي، کارونه يې ځنډوي او د اوږدو هيلو په وسيله يې غولوي.

-هر څومره چې يو عمل د بنده لپاره کټور او د الله تعالی په نزد محبوب وي، هماغومره شيطان هڅه کوي چې د هغه عمل په وړاندې خنډونه جوړ کړي.

-له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

-إِذَا نُودِيَ بِالصَّلَاةِ أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ وَلَهُ ضُرَاطٌ، فَإِذَا قُضِيَ أَقْبَلَ، فَإِذَا ثُوِّبَ بِهَا أَدْبَرَ، فَإِذَا قُضِيَ أَقْبَلَ، حَتَّى يَخْطِرَ بَيْنَ الْمَرْءِ وَنَفْسِهِ، فَيَقُولُ :اذْكُرْ كَذَا، اذْكُرْ كَذَا، لِمَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ، حَتَّى لَا يَدْرِيَ الرَّجُلُ كَمْ صَلَّى، فَإِذَا لَمْ يَدْرِ أَثَلَاثًا صَلَّى أَمْ أَرْبَعًا، سَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ.[32]

ژباړه:

-کله چې د لمانځه لپاره اذان وشي، شيطان شا کوي او له هغه څخه د باد غږ وځي .کله چې اذان پای ته ورسېږي، ببرته راشي .کله چې د لمانځه د اقامت غږ وشي، بيا شا کوي؛ او کله چې اقامت پای ته ورسېږي، بيا راشي؛ تر دې چې د انسان او د هغه د زړه ترمنځ وسوسې اچوي او ورته وايي :دا خبره ياده کړه، هغه خبره ياده کړه؛ هغه څه ورپه زړه کوي چې مخکې يې نه وو

[32] - صحيح البخاري، احاديث ۶۰۸، ۱۲۲۲، ۱۲۳۱، ۳۲۸۵؛ صحيح مسلم، حديث ۳۸۹.

ketabton.com - The Digital Library

ياد .تر دې چې انسان نه پوهېږي څو رکعته لمونځ پې کړی دی .که نه پوهېږي چې درې رکعته پې کړي که څلور، نو د سهوې دوه سجدې دې وکړي.

12 .شيطان په لمانځه کې د انسان زړه ګډوډوي :

-کله چې بنده لمانځه ته ودرېږي، شيطان پرې ډېر غوسه کېږي؛ ځکه بنده په داسې ستر مقام کې ولاړ وی چې د شيطان لپاره تر ټولو سخت او د الله تعالی په نزد تر ټولو نږدې حالت وی.

-نو شيطان خپل ټول توان کاروي چې د بنده او د هغه د زړه ترمنځ خنډ شي .په لمانځه کې هغه ته داسې خبرې او فکرونه ورپه زړه کوي چې تر لمانځه مخکې پې اصلاً په ياد نه وو .کله کله انسان يو شی هېر کړی وي او له هغه څخه پې هيله هم پرې کړې وي، خو شيطان هماغه شی په لمانځه کې ورپه زړه کوي، څو زړه پې پرې بوخت کړي او له الله تعالی څخه پې واړوي.

له همدې امله عائشې رضي الله عنها له رسول الله ﷺ څخه په لمانځه کې د مخ اړولو په اړه پوښتنه وکړه، نو رسول الله ﷺ وفرمايل:

»هُوَ اخْتِلَاسٌ يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلَاةِ الْعَبْدِ.« [33]

ژباړه:- دا هغه پټه غلا ده چې شيطان پې د بنده له لمانځه څخه کوي.

13 .شيطان د انسان د خميازه کولو له حالت څخه هم ګټه اخلي.

-د شيطان بل شر دا دی چې کله بنده خميازه وکړي او خپل لاس پر خوله کېږدي، شيطان ته د ننوتلو فرصت ورکوي.

-له ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيُمْسِكْ بِيَدِهِ عَلَى فِيهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ.[34]

ژباړه:

-کله چې له تاسو څخه د يوه کس څخه اړېمی ووځي، نو خپل لاس دې پر خوله کېږدي؛ ځکه شيطان د خولې له لارې ننوځي.

[33] - صحيح البخاري، احاديث ۷۵۱، ۳۲۹۱.

[34] - صحيح مسلم، حديث ۲۹۹۵.

ketabton.com - The Digital Library

-له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل :التَّثَاؤُبُ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرُدَّهُ مَا اسْتَطَاعَ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَالَ :هَا، ضَحِكَ الشَّيْطَانُ [35].

ژباړه :اړومې له شيطان څخه دى .نو كله چې له تاسو څخه يو كس اړومې وكړي، تر خپلې وسې دې هغه ببرته ونيسي؛ ځكه كله چې يو كس» ها «ووايي، شيطان پرې خاندي.

13 - شيطان د خوب پر مهال د انسان د عبادت مخه نيسي :

-د شيطان بل شر دا دى چې كله بنده ويده شي، شيطان پې پر سر غوټې تړي، څو هغه د شپې له نبكو عبادتونو څخه منع كړي؛ لكه د شپې لمونځ، د قرآن كريم تلاوت، ذكر او استغفار ويل .

-له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ، يَضْرِبُ عَلَى مَكَانِ كُلِّ عُقْدَةٍ : عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ فَارْقُدْ .فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللهَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ صَلَّى انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ، وَإِلَّا أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلَانَ.« [36]

ژباړه:

-شيطان ستاسو د يوه كس د سر په شا برخه كې، كله چې هغه ويده شي، درې غوټې تړي .د هرې غوټې پر ځای ټک وهي او وايي» :پر تا اوږده شپه ده، نو ويده شه«!

كه هغه له خوبه راويښ شي او د الله ذكر وكړي، يوه غوټه خلاصېږي؛ كه اودس وكړي، بله غوټه هم خلاصېږي؛ او كه لمونځ وكړي، درېيمه غوټه هم خلاصېږي .په دې توګه هغه سهار په داسې حال كې راپاڅېږي چې زړه او روح يې خوشاله او بدن يې فعال وي .خو كه داسې ونه كړي، سهار به بدحاله، زړه تنګ او سست وي.

-د حديث شريف له ظاهره داسې ښكاري چې څوک دا درې واړه كارونه .ذكر، اودس او لمونځ .يو ځای ترسره نه كړي، هغه د هغو كسانو له ډلې دى چې سهار به په بد حال او سستۍ راپاڅېږي.

[35] -صحيح البخاري، احاديث ۳۲۸۹، ۶۲۲۳، ۶۲۲۶.

[36] - صحيح البخاري، احاديث ۱۱۴۲، ۳۲۶۹؛ صحيح مسلم، حديث ۷۷۶.

ketabton.com - The Digital Library

١٤ .شيطان انسان د لمانځه او شپې له عبادته منع کوي :

-له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي :د رسول الله ﷺ په وړاندې د هغه سړي يادونه وشوه چې تولې شپه يې تر سهاره خوب کړی و .رسول الله ﷺ وفرمايل:

»ذَاكَ رَجُلٌ بَالَ الشَّيْطَانُ فِي أُذُنَيْهِ «يا يې وفرمايل :فِي أُذُنِهِ.« [37]

-ژباړه -دا هغه سړی دی چې شيطان يې په غوږونو .يا په يوه غوږ .کې بولې کړې دي.

١٥ .شيطان د انسان په بدن کې د وينې په څېر کړئ :

د شيطان بل شر دا دی چې هغه د آدم د اولاد په وجود کې د وينې په څېر کړئ.

-رسول الله ﷺ وفرمايل :إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنِ ابْنِ آدَمَ مَجْرَى الدَّمِ. [38]

-ژباړه:

بېشکه شيطان د آدم د اولاد په بدن کې د وينې په څېر کړئ.

-يعنې :شيطان له انسان سره ډېر نږدې تړاو لري او له هغه څخه نه بېلېږي؛ لکه څنګه چې د انسان وينه له هغه څخه نه بېلېږي .د دواړو ترمنځ د نږدې اړيکې او نه بېلېدلو له امله دا مثال بيان شوی دی.

١٦ .کله چې انسان په غږ او سندرو کې افراط وکړي، شيطان پرې اغېز کوي :

-له سائب بن يزيد رضي الله عنه څخه روايت دی چې يوه ښځه رسول الله ﷺ ته راغله .رسول الله ﷺ وفرمايل: يَا عَائِشَةُ، أَتَعْرِفِينَ هَذِهِ؟«

عائشې رضي الله عنها وويل :نه، اې د الله رسوله!

رسول الله ﷺ وفرمايل :هَذِهِ قَيْنَةُ بَنِي فُلَانٍ، أَتُحِبِّينَ أَنْ تُغَنِّيَكِ؟«

بيا چې هغې سندره وويله، رسول الله ﷺ وفرمايل :قَدْ نَفَخَ الشَّيْطَانُ فِي مَنْخَرَيْهَا.« [39]

ژباړه:

-رسول الله ﷺ عائشې رضي الله عنها ته وفرمايل» :اې عائشې !ايا دا ښځه پېژنې؟«

---

[37] - صحيح البخاري، احاديث ١١٤٤، ٣٢٧٠؛ صحيح مسلم، حديث ٧٧٤.

[38] - صحيح البخاري، حديث ٢٠٣٨؛ صحيح مسلم، حديث ٢١٧٥.

[39] - مسند أحمد، ٤٤٩/٣، حديث ١٥٧٦٢، په سند صحيح.

ketabton.com - The Digital Library

هغې وويل» :نه، اې د الله رسوله«!

رسول الله ﷺ وفرمايل» :دا د فلاني کورنۍ سندرغاړې ده .ايا خوښوې چې تا ته سندره ووايي؟«

کله چې هغې سندره وويله، رسول الله ﷺ وفرمايل» :شيطان د هغې په پوزو کې پوکړي دي«.

۱۷ .شيطان خلک له اصلي دين څخه اړوي :

-د شيطان يو له سترو شرونو څخه هغه څه دي چې رسول الله ﷺ د خپل رب له قوله روايت کړي دي:

»إِنِّي خَلَقْتُ عِبَادِي حُنَفَاءَ كُلَّهُمْ، وَإِنَّهُمْ أَتَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ فَاجْتَالَتْهُمْ عَنْ دِينِهِمْ، وَحَرَّمَتْ عَلَيْهِمْ مَا أَحْلَلْتُ لَهُمْ، وَأَمَرَتْهُمْ أَنْ يُشْرِكُوا بِي مَا لَمْ أُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا.[40]

ژباړه:

-الله تعالى فرمايي :ما خپل ټول بندګان په فطرت او د حق پر لوري مايل پيدا کړي وو، خو شيطانان هغوی ته راغلل او له خپل دين څخه يې واړول؛ هغه څه يې پرې حرام کړل چې ما ورته حلال کړي وو، او هغوی ته يې امر وکړ چې له ما سره داسې څه شريک کړي چې ما يې هېڅ دليل نه و نازل کړی.

-د دې حديث دوه ستر بنسټونه :

-دا ستر او مهم حديث دوه لوی اصول بيانوي چې هر يو يې په خپل ذات کې اساسي هدف دی:

-لومړی :يوازې د الله تعالى عبادت کول او له هغه سره هېڅوک شريک نه کول.

-دوهم :دالله تعالى بايد يوازې په هغو طريقو عبادت وشي چې هغه مشروع کړې، خوښې کړې او امر يې پرې کړی دی.

-همدا دوه اصول هغه موخه ده چې الله تعالى د همدې لپاره مخلوقات پيدا کړي دي .د دې دواړو ضد شرک او بدعت دي.

[40] -صحيح مسلم، حديث ۲۸۶۵.

ketabton.com - The Digital Library

-مشرک له الله تعالی سره د بل چا عبادت کوي، او بدعتي انسان الله تعالی ته په داسې طريقو د نږدې کېدو هڅه کوي چې الله او د هغه رسول ﷺ يې اجازه نه وي ورکړې، نه يې مشروع کړې وي او نه يې خوښ کړې وي.[41]

۱۸ .بدعت د شيطان په نزد له ګناه څخه هم خطرناک دی :

-بدعت يا دا دی چې انسان د حق خلاف عقيده خپله کړي، او يا په عبادت کې داسې طريقه غوره کړي چې الله تعالی اورسول الله ﷺ نه وي روا کړې.

-بدعت د ابليس په نزد له ګناه څخه هم ډېر محبوب دی؛ ځکه له ګناه څخه انسان توبه ايستلی شي، خو بدعتي کس ډېروخت له خپل بدعت څخه توبه نه کوي.

-د دې لامل دا دی چې بدعتي کس هغه عمل چې الله تعالی اورسول الله ﷺ نه وي مشروع کړی، په خپل نظر ښه او د ثواب وړ ګڼي. کله چې انسان خپل ناسم عمل ښه وبولي، نو ترهغه پورې تر توبه نه باسي، څو يې چې ښه او سم ګڼي.[42]

۱۹ .شيطان انسان ته واړه ګناهونه سپک او بې ارزښته ښيي :

د شيطان بل شر دا دی چې انسان په کوچنيو ګناهونو کې بې پروا کوي او هغه ورته سپکې او بې ارزښته ښکاره کوي.

-له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يُعْبَدَ بِأَرْضِكُمْ هَذِهِ، وَلَكِنْ قَدْ رَضِيَ مِنْكُمْ بِمُحَقَّرَاتِ الْأَعْمَالِ[43].«

ژباړه:

-بېشکه شيطان په دې ځمکه کې له دې څخه ناهيلی شوی چې خلک به يې عبادت وکړي؛ خو هغه په دې راضي دی چې تاسو په هغو کوچنيو او سپکو ګڼل شويو اعمالو او ګناهونو کې اخته شئ چې تاسو يې بې ارزښته ګڼئ.

20 .له سپکو ګڼل شويو ګناهونو څخه ځان ساتل :

-له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ هغې ته وفرمايل:

---

[41] - شفاء العليل«، ۸۲۴/۲.

[42] - مجموع الفتاوى«، ۹/۱۰.

[43] - مسند أحمد، ۳۶۸/۲، حديث ۸۷۹۶؛ په صحيح سند چې د شيخينو پر شرط دی.

ketabton.com - The Digital Library

»يَا عَائِشَةُ !إِيَّاكِ وَمُحَقَّرَاتِ الْأَعْمَالِ، فَإِنَّ لَهَا مِنَ اللهِ طَالِبًا[44].«

ژباړه:

-اې عائشې !له هغو عملونو څخه ځان وساته چې ته يې واړه او بې ارزښته ګڼې؛ ځکه د هغو لپاره د الله تعالى له لوري حساب غوښتونکی شته.

21.کوچنۍ ګناهونه چې سره راټول شي، انسان هلاکوي :

-له سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»إِيَّاكُمْ وَمُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ، كَقَوْمٍ نَزَلُوا فِي بَطْنِ وَادٍ، فَجَاءَ ذَا بِعُودٍ، وَجَاءَ ذَا بِعُودٍ، حَتَّى أَنْضَجُوا خُبْزَتَهُمْ، وَإِنَّ مُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ مَتَى يُؤْخَذْ بِهَا صَاحِبُهَا تُهْلِكْهُ.[45]

ژباړه:

-له هغو ګناهونو څخه ځان وساتئ چې تاسو يې واړه او بې ارزښته ګڼئ؛ ځکه د هغو مثال د هغو خلکو په څېر دی چې د يوې درې تل ته ښکته شول .يو کس يو لرګی راوړ، بل بل لرګی راوړ، تر دې چې د دوی لپاره يې لوی اور بل کړ او خواړه يې پرې پاخه کړل.

-همدارنګه واړه ګڼل شوي ګناهونه چې د بنده پر وړاندې يو پر بل پسې راټولېږي، بالاخره هغه هلاکوي.

تشريح:

-د حديث معنا دا ده چې هر يو کس يوه يوه د لرګيو ټوټه راوړه، تر دې چې ډېر لرګي سره راټول شول او لوی اور ترې جوړ شو .همدا ډول انسان واړه ګناهونه يو په بل پسې ترسره کوي او د هغوی په اړه بې پروا وي، تر دې چې دغه ګناهونه سره راټولېږي او بالاخره يې هلاکوي.

-د شيطان له شر څخه د ژغورنې کلکه کلا :

-د وړو ګناهونو سپک ګڼل :

-د لرګيو يوه ټوټه نه ډوډۍ پخوي او نه د پخلي لپاره کافي اور بلوي؛ خو کله چې د لرګيو ټوټې سره راټولې او اور پرې بل شي، نو لوی اور ترې جوړېږي .همدارنګه د وړو ګناهونو سپک ګڼل د هغې سپرکي په څېر دي چې وچو واښو ته وغورځول شي؛ ډېر لوی اور پرې بلېږي .لکه چې ويل شوي دي:

[44] - ابن ماجه، حديث ۴۲۴۳؛ البانې رحمه الله په» صحيح سنن ابن ماجه «کې صحيح بللی، حديث ۳۴۲۱.

[45] - مسند أحمد، حديث ۲۲۹۱۶، په صحيح سند چې د شيخينو پر شرط دی.

ketabton.com - The Digital Library

-ومُعظَمُ النَّارِ مِن مُستَصغَرِ الشَّرَرِ

-ژباړه :د ډېرو لويو اورونو پيل له هغو وړو شرارو څخه کېږي چې انسان يې ناچيزې ګڼي.

-نو د ګناه لړۍ داسې پيل کېدای شي :لومړی يوځل کتنه، بيا يوه خيالي وسوسه، بيا يو ګام، او وروسته يوه ګناه.

-ابو عبدالرحمن حُبُلي رحمه الله وايي:

-د هغه چا مثال چې له لويو ګناهونو څخه ځان ساتي، خو واړه ګناهونه سپک ګڼي او په هغو کې واقع کېږي، د هغه سړي په څېر دی چې له يوه قوي حيوان سره مخ شي، ځان ترې وساتي او وژغورل شي؛ بيا له يوه خطرناک شي سره مخ شي او ځان هم ترې وژغوري؛ خو وروسته پې يوه مېږی وچيچي او درد ورته ورسوي، بيا بل مېږی، بيا بل؛ تر دې چې ډېر مېږي پرې راټول شي او هغه راوغورځوي .همدا ډول هغه څوک چې له لويو ګناهونو ځان ساتي، خو واړه ګناهونه سپک ګڼي او په هغو اخته کېږي. [46]

ابن المعتز وايي:

خلِّ الذُّنوبَ صَغيرَها وكبيرَها
ذاكَ التُّقى
واصنعْ كماشٍ فوقَ أرضِ الشَّوكِ
يحذرُ ما يرى
لا تحقرنَّ صغيرةً
إنَّ الجبالَ من الحصى

-ژباړه:

-له ټولو ګناهونو څخه ځان وساته، که وړې وي او که لوې؛ همدا تقوا ده.
د هغه چا په څېر واوسه چې په اغزو روان وي او هر هغه څه ته پام کوي چې مخې ته يې راخي.
هيڅکله کومه وړه ګناه سپکه مه ګڼئ؛ ځکه لوی غرونه له وړو تيږو جوړېږي.

-يوه وړه تيږه نه غونډۍ جوړوي او نه غر؛ خو کله چې ډېرې شي، غونډۍ ترې جوړه شي، او کله چې يو پر بل راټولې شي، غر جوړوي .همدارنګه بنده وړو ګناهونوته په سپک نظر ګوري،

[46] - شرح صحيح البخاري لابن بطال، ۲۰۳/۱۰.

ketabton.com - The Digital Library

تر دې چې ګناهونه يې ډېر شي، له هرې خوا پرې راچاپېر شي او د ګناهونو په منځ کې راګير شي؛ نو هلاکت يې يقيني شي.

-څوک چې په دې مسئله کې ژور فکر او سوچ وکړي، د دې خبرې ستر اهميت او له هغې څخه د ډېرې ګټې اخيستنې اړتيا به درک کړي. [47]

د رټل شوي شيطان پر وړاندې مضبوطه کلا:

-لومړۍ کلا :اخلاص :

-کله چې ابليس پوه شو چې پر مخلصو بندګانو هېڅ لاره نه لري، نو هغوی يې له هغو کسانو څخه جلا کړل چې د ګمراه کولو او هلاکولو لپاره يې په نښه کړي وو .الله تعالى د ابليس خبره داسې بيانوي:

﴿قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۝ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ﴾[48]

-ژباړه :ابليس وويل :ستا په عزت قسم، زه به خامخا هغوی ټول ګمراه کړم، پرتهسته له هغو بندګانو چې مخلصان دي.

-نو اخلاص له شيطان څخه د خلاصون لاره ده.

-د مخلصو خلکو ټول اعمال د الله لپاره وي، خبرې يې د الله لپاره وي، ورکول يې د الله لپاره وي، نه ورکول يې هم د الله لپاره وي، مينه يې د الله لپاره وي او کرکه يې هم د الله لپاره وي.

-له ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :مَنْ أَحَبَّ لِلَّهِ، وَأَبْغَضَ لِلَّهِ، وَأَعْطَى لِلَّهِ، وَمَنَعَ لِلَّهِ، فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الإِيمَانَ. [49]

ژباړه :څوک چې د الله لپاره مينه وکړي، د الله لپاره کرکه وکړي، د الله لپاره ورکړه وکړي او د الله لپاره له ورکولو ډډه وکړي، نو ايمان يې بشپړ کړی دی .

علامه سعدي رحمه الله وايي:

عَزَفُوا القلوبَ عَنِ الشَّواغلِ كلِّها ... قد فرَّغوها من سوى الرحمنِ

حركاتُهم وهمومُهم وعزومُهم ... للهِ لا للخَلقِ والشَّيطانِ

---

[47] - *التبيان في أقسام القرآن*، ص ٣٠١.

[48] - ص :٨٢-٨٣

[49] - *سنن أبي داود*، ٤٦٨١؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح سنن أبي داود*، ٣٩١٥ کې صحيح بللی.

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه:

-هغوی خپل زړونه له هر هغه څه څخه اړولي دي چې دوی په دنيا کې مشغولوي، او له رحمان پرته پې د بل هر څه له مينې پاک کړي دي. د هغوی هر حرکت، هره اندښنه او هره اراده يوازې د الله لپاره ده، نه د خلکو او نه د شيطان لپاره.[50]

-د اخلاص خاوندان په ظاهر او باطن کې يوازې د الله لپاره عمل کوي .هغوی له خلکو څخه نه د اجر تمه لري، نه د منې، نه دا غواړي چې د خلکو په زړونو کې مقام او ستاينه پيدا کړي، او نه د خلکو له ملامتۍ څخه د تښتې لپاره عمل کوي؛ بلکې خلک پې داسې ګڼلي وي لکه د قبرونو خاوندان، چې نه د چا د ضرر او ګټې واک لري، نه د مرګ او ژوند، او نه د بيا راژوندي کولو.

- پوه شه چې د نفس لپاره تر ټولو سخته خبره دا ده چې خپل عمل له شيطان څخه خالص د الله لپاره وګرځوي .[51]

- دې مقام ته يوازې هغه څوک رسېږي چې الله تعالى ورته توفيق ورکړي، په خپل رحمت پې پياوړی کړي، ساتنه او پالنه پې وکړي، او د زړه بصيرت پې ورته پرانيزي.[52]

-دويمه کلا :د قرآن کريم تلاوت :

-له ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يوه شپه له کوره راووت. په دې وخت کې پې ابو بکر رضي الله عنه وليد چې لمونځ پې کاوه او خپل غږ پې ټيټ ساتلی و. بيا پې عمر بن خطاب رضي الله عنه وليد چې په لوړ غږ پې لمونځ کاوه.

کله چې دواړه د رسول الله ﷺ حضور ته راغلل، رسول الله ﷺ ابو بکر رضي الله عنه ته وفرمايل:

»يَا أَبَا بَكْرٍ، مَرَرْتُ بِكَ وَأَنْتَ تُصَلِّي، تُخْفِضُ صَوْتَكَ«

-ابو بکر رضي الله عنه وويل: «اې د الله رسوله! ما خپل غږ ټيټ کړی و، ځکه له هغه ذات سره مې مناجات کاوه چې زما غږېې اوربدلو.»

-او عمر رضي الله عنه ته پې وفرمايل:

---

[50] - *الدرة الفاخرة*، ص ۲۹.

[51] - *الروح*، ص ۳۰۶، له لږ تصرف سره.

[52] -*الروح*، ص ۳۲۱.

ketabton.com - The Digital Library

»مَرَرْتُ بِكَ وَأَنْتَ تُصَلِّي رَافِعًا صَوْتَكَ«

-عمر رضي الله عنه وويل :اې د الله رسوله !ما ويده او غافل کس راويښاوه او شيطان مې شړلو.

-نو رسول الله ﷺ ابو بکر رضي الله عنه ته وفرمايل:

»يَا أَبَا بَكْرٍ، ارْفَعْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا«

او عمر رضي الله عنه ته يې وفرمايل:

»اخْفِضْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا.[53]

-دريمه کلا :آيت الکرسي :

-په صحيح البخاري کې ثابت شوي حديث دی چې څوک د ويده کېدو پر مهال آيت الکرسي ولولي، نو تر سهاره به د الله تعالى له لوري يو ساتونکی ورسره وي او شيطان به ورته نه نږدې کېږي.[54]

-همدارنګه د نسائي په عمل اليوم والليلة کې راغلي چې څوک آيت الکرسي سهار ولولي، تر ماښامه به د جناتو له شره په امان کې وي؛ او چې څوک يې ماښام ولولي، تر سهاره به د جناتو له شره په امان کې وي) .[55]

-څلورمه کلا :د سورت بقرې وروستي دوه آيتونه :

-له نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :إِنَّ اللهَ كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ بِأَلْفَيْ عَامٍ، أَنْزَلَ مِنْهُ آيَتَيْنِ خَتَمَ بِهِمَا سُورَةَ الْبَقَرَةِ، وَلَا يُقْرَآنِ فِي دَارٍ ثَلَاثَ لَيَالٍ فَيَقْرَبَهَا شَيْطَانٌ)[56]

ژباړه :الله تعالى د اسمانونو او ځمکې له پيدا کولو دوه زره کاله وړاندې يو کتاب وليکه؛ له هغه کتاب څخه يې دوه آيتونه نازل کړل چې سورة البقرة يې پرې پای ته رسولې ده .په کوم کور کې چې دا دوه آيتونه درې شپې ولوستل شي، شيطان به هغه کور ته نږدې نه شي.

---

[53] - *سنن أبي داود*، ۱۳۲۹؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح سنن أبي داود*، ۱۱۸۰ کې صحيح بللی.

[54] - (*صحيح البخاري*، ۲۳۱۱، ۳۲۷۵، ۵۰۱۰.

[55] - (*عمل اليوم والليلة*، ۱۰۷۹۷.

[56] - *سنن الترمذي*، ۲۸۸۲؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح سنن الترمذي*، ۲۳۱۱ کې صحيح بللی.

ketabton.com - The Digital Library

پنځمه کلا :د الفلق او, و الناس سورتونه :

-د معوّذتينو په وسيله د الله تعالى څخه د شيطان له شره پناه غوښتل او د هغه له شر څخه ځان ساتل ډېر عجيب او اغېزمن اثر لري .بنده دغه دوو سورتونو ته تر هغه هم ډېره اړتيا لري، څومره چې هوا، خوراک او څښاک ته يې لري.

-له ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دى :كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَتَعَوَّذُ مِنَ الجَانِّ، وَعَيْنِ الإِنْسَانِ، حَتَّى نَزَلَتِ المُعَوِّذَتَانِ، فَلَمَّا نَزَلَتَا أَخَذَ بِهِمَا وَتَرَكَ مَا سِوَاهُمَا.[57]

-ژباړه :رسول الله ﷺ به د پېريانو او د انسانانو له بد نظر څخه په الله تعالى پناه غوښتله، تر دې چې معوّذتان نازل شول؛ بيابه رسول الله ﷺ همدا دواړه د پناه لپاره کارول او نور يې پرېښودل.

-له عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دى، وايي:

-زه د رسول الله ﷺ سره د جُحفې او اَبوا تر منځ روان وم چې پر موږ سخته باد او ډېره تياره راغله .رسول الله ﷺ د ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ او ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾ په لوستلو پناه غوښتله او ماته يې وويل:

»يَا عُقْبَةُ، تَعَوَّذْ بِهِمَا، فَمَا تَعَوَّذَ مُتَعَوِّذٌ بِمِثْلِهِمَا.[58]

-ژباړه :اې عقبه! په همدې دواړو سورتونو سره پناه وغواړه؛ ځکه هېڅ پناه غوښتونکي د دې دواړو په څېرې بل څه پناه نه ده غوښتې.

[57] - *سنن النسائي*، ۵۴۹۶؛ *صحيح سنن النسائي*، ۵۰۶۹.

[58] - *سنن أبي داود*، ۱۴۶۳؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح الجامع*، ۷۹۴۹ کې صحيح بللى .

ketabton.com - The Digital Library

-د معوذتينو د لوستلو ځايونه :

-لومړی :سهار او ماښام :

-له عبدالله بن حُبيب رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي:

مورږ په يوه باراني او ډېره تياره شپه کې د رسول الله ﷺ د لټون لپاره ووتلو، څو هغه مورږ ته لمونځ راکړي .ما رسول الله ﷺ وموند.

هغه وفرمايل :قُلْ« ما هېڅ ونه ويل. بيا يې وفرمايل :قُلْ« ما بيا هېڅ ونه ويل. بيا يې وفرمايل:

»قُلْ« ما وويل :اې د الله رسوله !څه ووايم؟ هغه وفرمايل:

»قُلْ :قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ، وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ حِينَ تُمْسِي وَتُصْبِحُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ تَكْفِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ.[59]

ژباړه :ووايه» :قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ «او معوّذتان، سهار او ماښام درې درې ځله ولوله؛ دا د هر څه لپاره درته کافي دي.»

-دويم :د خوب پر مهال :

-له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی:رسول الله ﷺ به هره شپه چې خپلې بسترې ته تلو، دواړه لاسونه به يې سره يوځای کړل، لږ پوکۍ به يې پکې وکړ، بيا به يې د خپل توان ترکچې پر خپل بدن لاسونه تېرول. لومړی به يې د «قل هو الله احد» سورت ولوست، بيا به يې «قل أعوذ برب الفلق» او «قل أعوذ برب الناس» هم ولوستل.

﴿قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ﴾

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾

بيا به يې په دواړو لاسونو خپل بدن تر هغه ځايه پورې مسح کاوه چې توان به يې درلود؛ لومړی به يې پر سر او مخ، او بيا به يې د بدن مخامخ برخې مسح کولې .دا کار به يې درې ځله کاوه[60] .

[59] - *سنن أبي داود*، ۵۰۸۲؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح سنن أبي داود*، ۴۲۴۱ کې حسن بللی.

[60] - *صحيح البخاري*، ۵۰۱۶، ۵۷۴۸، ۶۳۱۹.

ketabton.com - The Digital Library

-دربيم :د هر فرض لمانځه په پای کې :

له عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دی :أَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنْ أَقْرَأَ بِالْمُعَوِّذَتَيْنِ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ.[61]

ژباړه :رسول الله ﷺ ماته امر وکړ چې د هر لمانځه په پای کې معوِّذتان ولولم.

-څلورم :د ناروغۍ پر مهال :

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی: د رسول الله ﷺ د خپلې کورنۍ کوم غړی به چې ناروغ شو، پرهغه به يې معوِّذات لوستل اوپوکی به يې پرې کاوه. کله چې رسول الله ﷺ په هغه ناروغۍ اخته شو چې په هماغه ناروغۍ کې وفات شو، ما به پرهغه معوِّذات لوستل اوپوکی به مې پرې کاوه؛ او د هغه په لاس به مې دهغه بدن مسح کولو، ځکه چې د هغه لاس زما له لاسه ډېربرکتناک و.[62]

-شپږمه کلا :سل ځله تهليل ويل :

-له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»مَنْ قَالَ :لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ، كَانَتْ لَهُ عَدْلَ عَشْرِ رِقَابٍ، وَكُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ، وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ، وَكَانَتْ لَهُ حِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ يَوْمَهُ ذَلِكَ حَتَّى يُمْسِيَ[63]

-ژباړه :څوک چې په ورځ کې سل ځله ووايي» :له الله پرته بل معبود نشته، هغه يو دی، شريک نه لري، پاچاهي د هغه ده او ستاينه هم د هغه ده، او هغه پر هر څه قادر دی«، نو د لسو غلامانو د آزادولو هومره اجر به يې وي، سل نېکۍ به ورته وليکل شي، سل ګناهونه به يې پاک شي، او په هغه ورځ تر ماښامه پورې به د شيطان دشر څخه وساتل شي .

-اوومه کلا :د الله تعالی ډېر ذکرکول :

-له حارث اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

الله تعالی يحيى بن زکريا عليه السلام ته د پنځو خبرو امر وکړ، چې خپله پرې عمل وکړي او بني اسرائيلو ته هم امر وکړي چې پرې عمل وکړي.

---

61 ـ *سنن الترمذي*، ۲۹۰۳؛ علامه البانې رحمه الله په *صحيح سنن الترمذي*، ۲۳۲۴ کې صحيح بللی.

62 - *صحيح مسلم*، ۲۱۹۲.

63 - *صحيح البخاري*، ۳۲۹۳، ۶۴۰۳؛ *صحيح مسلم*، ۲۶۹۱.

ketabton.com - The Digital Library

-له هغو څخه يوه دا وه:

-تاسو ته امر کوم چې د الله ډېر ذکر وکړئ؛ ځکه د هغه چا مثال چې د الله ذکر کوي، د هغه سړي په څېر دی چې دښمنان يې په چټکۍ پسې را روان وي، تر دې چې هغه يوې مضبوطې کلا ته ورسېږي او ځان له هغوی څخه وساتي .همداسې بنده هم له شيطان څخه له الله تعالی پرته په بل څه ځان نه شي ژغورلای.[64]

-اتمه کلا :د تلاوت سجده :

-له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»إِذَا قَرَأَ ابْنُ آدَمَ السَّجْدَةَ، فَسَجَدَ، اعْتَزَلَ الشَّيْطَانُ يَبْكِي، يَقُولُ :يَا وَيْلِي، أُمِرَ ابْنُ آدَمَ بِالسُّجُودِ فَسَجَدَ، فَلَهُ الجَنَّةُ، وَأُمِرْتُ بِالسُّجُودِ فَعَصَيْتُ، فَلِيَ النَّارُ.[65]

-ژباړه :کله چې د آدم اولاد د سجدې آيت ولولي او سجده وکړي، شيطان تړې ليرې شي او ژاړي، وايي :افسوس پر ما !د آدم اولاد ته د سجدې امر وشو، هغه سجده وکړه؛ نو د هغه لپاره جنت دی .ما ته د سجدې امر وشو، خو ما سرغړونه وکړه؛ نو زما لپاره اور دی.

-نهمه کلا :تسميه » بِسْمِ الله :

-څوک چې غواړي د شيطان له شر څخه د الله تعالی په وسيله ځان وساتي، نو کله چې هر کار پيلوي، بايد په» بِسْمِ الله «يې پيل کړي.

-له همدې امله مور ته په ډېرو کارونو کې د تسمې ويلو امر شوی، چې د شيطان د کمزورۍ کولو لپاره يې ځينې ببلګې دا دي:

-لومړی ځای :کله چې سپرلۍ يې وغورځي :

-له ابو المليح څخه، روايت شوی دی، وايي:

-زه د رسول الله ﷺ تر شا پر سپرلۍ سپور وم .سپرلۍ وغورځولم، نو ما وويل :تَعِسَ الشَّيْطَانُ« .شيطان دې هلاک شي!

-رسول الله ﷺ وفرمايل:

---

[64] - :*سنن الترمذي*، ۲۸۶۳؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح سنن الترمذي*، ۲۲۹۸ کې صحيح بللی.

[65] - *صحيح مسلم*، ۸۱.

ketabton.com - The Digital Library

»لَا تَقُلْ :تَعِسَ الشَّيْطَانُ، فَإِنَّكَ إِذَا قُلْتَ ذَلِكَ تَعَاظَمَ حَتَّى يَصِيرَ مِثْلَ الْبَيْتِ، وَيَقُولَ :بِقُوَّتِي، وَلَكِنْ قُلْ :بِسْمِ اللهِ، فَإِنَّكَ إِذَا قُلْتَ ذَلِكَ تَصَاغَرَ حَتَّى يَكُونَ مِثْلَ الذُّبَابِ.[66]

-ژباړه» :داسې مه وايه :شيطان دې هلاک شي؛ ځکه کله چې دا خبره وکړې، شيطان دومره لوی شي چې د کور په اندازه شي او وايي :دا زما په ځواک وشول .بلکې ووايه» :بِسْمِ الله .«کله چې »بِسْمِ الله «ووايې، شيطان دومره کوچنی شي چې د مچ په اندازه شي«.

-دويم ځای :له کوره د وتلو پر مهال دعاويل :

له انس بن مالک رضي الله عنه ځخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»إِذَا خَرَجَ الرَّجُلُ مِنْ بَيْتِهِ فَقَالَ :بِسْمِ اللهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، يُقَالُ حِينَئِذٍ :هُدِيتَ، وَكُفِيتَ، وَوُقِيتَ، فَتَتَنَحَّى لَهُ الشَّيَاطِينُ، فَيَقُولُ شَيْطَانٌ لِآخَرَ :كَيْفَ لَكَ بِرَجُلٍ قَدْ هُدِيَ وَكُفِيَ وَوُقِيَ؟«[67]

-ژباړه: کله چې يو سړی له خپل کوره ووځي اوووايي: «د الله په نوم، پر الله مې توکل وکړ، له الله پرته هيڅ ځواک او توان نشته»، نو ورته ويل کېږي: «ته هدايت شوې، ستا لپاره بسنه وشوه او له هر شر ځخه وساتل شوې.» بيا شيطانان له هغه ځخه لرې کېږي، او يو شيطان بل ته وايي: «ته به له داسې سړي سره څه وکړای شې چې هدايت شوی، بسنه ورته شوې او له شر ځخه ساتل شوی دی؟»

-درېيم ځای :د جماع پر مهال دعا ويل :

-له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ځخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»أَمَا إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا أَتَى أَهْلَهُ، وَقَالَ :بِسْمِ اللهِ، اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا، فَرُزِقَا وَلَدًا لَمْ يَضُرَّهُ الشَّيْطَانُ.[68]

-ژباړه:

-خبر اوسئ !کله چې له تاسو ځخه يو ځوک له خپلې مېرمنې سره د جماع اراده وکړي او ووايي: »د الله په نوم؛ اې الله !مورِ له شيطان ځخه وساته او هغه اولاد چې مورِ ته يې راکوې، له

---

[66] - :سنن أبي داود، ۴۹۸۲؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح سنن أبي داود*، ۴۱۶۸ کې صحيح بللی.

[67] - سنن أبي داود، حديث ۵۰۹۵؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح سنن أبي داود* کې صحيح بللی، حديث ۴۲۴۹.

[68] - صحيح البخاري، احاديث ۱۴۱، ۳۲۷۱، ۳۲۸۳، ۵۱۶۵؛ صحيح مسلم، حديث ۱۴۳۴.

ketabton.com - The Digital Library

شيطان څخه وساته«، نو که د دوی په دې اړيکه کې ماشوم پيدا شي، شيطان به هغه ته زيان ونه شي رسولای.

-څلورم ځای :تشناب ته د ننوتلو پر مهال دعا ويل :

له علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»سَتْرُ مَا بَيْنَ أَعْيُنِ الْجِنِّ وَعَوْرَاتِ بَنِي آدَمَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُهُمُ الْخَلَاءَ أَنْ يَقُولَ :بِسْمِ اللهِ.[69]

-ژباړه:

-کله چې څوک تشناب ته ننوځي، د هغه او د پېريانو د سترګو ترمنځ پرده دا ده چې ووايي : »بِسْمِ اللهِ.«

-پنځم ځای :د خوړو پر مهال دعا ويل :

-له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې ده له رسول الله ﷺ څخه واورېدل:

»إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ، فَذَكَرَ اللهَ عِنْدَ دُخُولِهِ وَعِنْدَ طَعَامِهِ، قَالَ الشَّيْطَانُ :لَا مَبِيتَ لَكُمْ وَلَا عَشَاءَ، وَإِذَا دَخَلَ فَلَمْ يَذْكُرِ اللهَ عِنْدَ دُخُولِهِ، قَالَ الشَّيْطَانُ :أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ، وَإِذَا لَمْ يَذْكُرِ اللهَ عِنْدَ طَعَامِهِ، قَالَ :أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ.[70]

-ژباړه:

-کله چې يو سړی خپل کور ته ننوځي او د ننوتلو پر مهال او د خوړو پر مهال د الله ذکر وکړي، شيطان وايي» :تاسو دلته د شپې د اوسېدو ځای او د ماښام ډوډۍ نه لرئ«.

-او کله چې کور ته ننوځي خو د ننوتلو پر مهال د الله ذکر ونه کړي، شيطان وايي» :تاسو د شپې د اوسېدو ځای ومونده«.

-او کله چې د خوړو پر مهال د الله ذکر ونه کړي، شيطان وايي» :تاسو د شپې د اوسېدو ځای او ډوډۍ دواړه ومونده«.

لسمه کلا :په تقدير باندې تسليمېدل

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

---

[69] - سنن الترمذي، حديث ۶۰۶؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح سنن الترمذي* کې صحيح بللی، حديث ۴۹۶.

[70] - صحيح مسلم، حديث ۲۰۱۸.

ketabton.com - The Digital Library

»الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ، وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ، احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ، وَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَلَا تَعْجَزْ، وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ فَلَا تَقُلْ :لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا، وَلَكِنْ قُلْ : قَدَرُ اللهِ وَمَا شَاءَ فَعَلَ، فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ.[71]

-ژباړه:

-قوي مؤمن الله ته له کمزوري مؤمن څخه غوره او ډېر محبوب دی، که څه هم په دواړو کې خير شته .په هغه څه کې حرص کوه چې تا ته ګټه رسوي، له الله څخه مرسته وغواړه او عاجزي مه کوه .او که کومه پېښه درته رامنځته شوه، داسې مه وايه» :که ما داسې کړي وای، نو داسې او داسې به شوي وای «.بلکې ووايه» :دالله تقدير داسې و او څه چې يې غوښتل، هماغه يې وکړل «.ځکه» که «ويل د شيطان د عمل دروازه پرانيزي.

يوولسمه کلا :د شپې لمونځ کول :

-له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ، يَضْرِبُ عَلَى مَكَانِ كُلِّ عُقْدَةٍ : عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ فَارْقُدْ .فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللهَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ صَلَّى انْحَلَّتْ عُقَدُهُ، فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ، وَإِلَّا أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلَانَ.[72]

-ژباړه: کله چې له تاسو څخه يو څوک ويده شي، شيطان يې په سر درې غوټې ټړي او د هرې غوټې پر مهال ورته وايي: «لا اوږده شپه پاتې ده، ويده شه!»

-که هغه له خوبه راويښ شي او د الله تعالی ذکر وکړي، يوه غوټه يې خلاصېږي. که اودس وکړي، دويمه غوټه هم خلاصېږي، او که لمونځ وکړي، درېيمه غوټه هم خلاصېږي. په دې توګه به سهار په خوښ زړه او له نشاط څخه ډک وي. خو که دا کارونه کړي، سهار به په تنګ زړه او سستۍ کې راپاڅي.

-دولسمه کلا :استعاذه .له الله څخه پناه غوښتل :

له شيطان څخه د ساتنې لپاره په ډېرو ځايونو کې استعاذه مشروع ده.

لومړی :د قرآن کريم د تلاوت پر مهال دعا ويل :

-الله تعالی فرمايي:﴿فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ﴾[73]

[71] - صحيح مسلم، حديث ۲۶۶۴.

[72] - صحيح البخاري، احاديث ۱۱۴۲، ۳۲۶۹؛ صحيح مسلم، حديث ۷۷۶.

ketabton.com - The Digital Library

-ژباړه :نو کله چې قرآن لولې، له رټل شوي شيطان څخه په الله پناه وغواړه.

-دوهم :مسجد ته د ننوتلو پر مهال دعا :

-له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به کله مسجد ته داخليده، ويل به يې:

»أَعُوذُ بِاللهِ الْعَظِيمِ، وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيمِ، وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيمِ، مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ«[74]

-ژباړه:

-زه د ستر الله، د هغه د کريم ذات او د هغه د پخواني سلطنت په وسيله له رټل شوي شيطان څخه پناه غواړم.

-په حديث کې راغلي چې کله څوک دا دعا ووايي، شيطان وايي» :هغه له ما څخه د ټولې ورځې لپاره وساتل شو«.

-دريم :تشناب ته د ننوتلو پر مهال دعا :

-له زيد بن ارقم رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :إِنَّ هَذِهِ الْحُشُوشَ مُحْتَضَرَةٌ، فَإِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ فَلْيَقُلْ :أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ.[75]

-ژباړه:

-بېشکه دا تشنابونه د ناپاکو مخلوقاتو د شتون ځايونه دي؛ نو کله چې له تاسو څخه څوک تشناب ته ننوځي، بايد ووايي:

»أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ.[76]

-يعنې :زه له الله څخه د نارينه او ښځينه شيطانانو له شره پناه غواړم.

-څلورم ځای :د غوسې پر مهال دعا ويل :

-له سليمان بن صُرَد رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي:

---

[73] - سورة النحل، آيت ۹۸.

[74] - سنن أبي داود، حديث ۴۶۶؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح سنن أبي داود* کې صحيح بللی، حديث ۴۴۱.

[75] - سنن أبي داود، حديث ۶؛ سنن ابن ماجه، حديث ۲۹۶؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح الجامع* کې صحيح بللی، حديث ۲۲۶۳.

[76] - سنن أبي داود، حديث ۶؛ د دې دعا اصل په صحيح البخاري او صحيح مسلم کې هم روايت شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

-زه له رسول الله ﷺ سره ناست وم، دوه کسانو يو له بل سره ښکنځل او بد رد ويل .له هغوی څخه د يوه مخ سور شو او د غاړې رګونه يې له غوسې را وپرسېدل.

نو رسول الله ﷺ وفرمايل:

»إِنِّي لَأَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا ذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ، لَوْ قَالَ :أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ، ذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ.[77]

-ژباړه :زه داسې يوه کلمه پېژنم چې که هغه سړي ويلې وای، هغه حالت چې دی يې احساسوي، له منځه به تللی وای .هغه داده:

»أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ«

-يعني :زه له شيطان څخه په الله پناه غواړم؛ نو هغه غوسه او حالت به يې له منځه تللی وای.

-پنځم ځای :د تکبير تحريمې وروسته او له قرائت څخه مخکې :

-له ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به کله د شپې لمانځه ته پاڅيده ، تکبير به يې ووايه، بيا به يې ويل:

»سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ«

-بيا به يې درې ځله ويل :لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ« او درې ځله به يې ويل :اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا«

-بيا به يې ويل :أَعُوذُ بِاللهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، مِنْ هَمْزِهِ وَنَفْخِهِ وَنَفْثِهِ.[78]

-ژباړه:

-اې الله !ته پاک يې او ستا ستاينه ده، ستا نوم مبارک دی، ستا شان لوړ دی، او له تا پرته بل معبود نشته.

-زه د اوربدونکي او عالم الله په وسيله له رټل شوي شيطان څخه پناه غواړم؛ د هغه له وسوسو، تکبر او د شعر او باطلو خبرو له اغېز څخه.

-شپږم ځای :کله چې د شيطان وسوسه او تحريک احساس شي :

الله تعالى فرمايي: ﴿وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ إِنَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾[79]

---

[77] - صحيح البخاري، حديث ٣٢٨٢؛ صحيح مسلم، حديث ٢٦١٠.

[78] - سنن أبي داود، حديث ٧٧٥؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح سنن أبي داود* کې صحيح بللی، حديث ٧٠١.

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه:

-او کله چې د شیطان له لوري کومه وسوسه او تحریک درته پیدا شي، نو له الله څخه پناه وغواړه؛ بېشکه هغه ښه اوربدونکی او ښه پوه دی.

الله تعالی بل ځای فرمایي:﴿وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ [80]

ژباړه:

-او کله چې د شیطان له لوري کومه وسوسه او تحریک درته پیدا شي، نو له الله څخه پناه وغواړه؛ بېشکه هماغه ښه اوربدونکی او ښه پوه دی.

او الله تعالی خپل نبي ﷺ ته فرمایي: ﴿وَقُلْ رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ ۝ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِ﴾ [81]

ژباړه:

-او ووایه :اې زما ربه !زه په تا پناه غواړم د شیطانانو له وسوسو او تحریکونو څخه، او اې زما ربه !زه په تا پناه غواړم له دې څخه چې هغوی ماته حاضر شي.

-نو الله تعالی خپل نبي ﷺ ته امر وکړ چې د خپل بشپړ او کمال ته رسېدلي ربوبیت په وسیله له دې ستر فساد کوونکي مخلوق څخه پناه وغواړي؛ ځکه شیطان د هر شر اصل، بنسټ او سرچینه ده.

که د نړۍ تر ټولو غوره، هوښیار او د الله تعالی په نزد تر ټولو غوره انسان، یعنې رسول الله ﷺ، سره له دې هم د شیطان له شر څخه په الله پناه غوښتلو ته اړتیا لري؛ نو ته به د خپلې ناپوهۍ، غفلت او کمزورۍ سره څومره زیاتې پناه غوښتنې ته اړتیا لرې! [82]

-اووم ځای :د مرګ پر مهال د شیطان له کړوړولو څخه پناه غوښتل :

د رسول الله ﷺ له دعاوو څخه یوه دا ده:

»وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ يَتَخَبَّطَنِيَ الشَّيْطَانُ عِنْدَ الْمَوْتِ. [83]

---

[79] - سورة الأعراف، آیت ۲۰۰.

[80] - سورة فصلت، آیت ۳۶.

[81] - سورة المؤمنون، آیتونه ۹۷–۹۸.

[82] - *الروح*، ص ۳۱۱.

ketabton.com - The Digital Library

-ژباړه:

- زه په تا پناه غواړم له دې څخه چې شيطان مې د مرګ پر مهال ګډوډ او بې لارې کړي.

-اتم ځای :د سپيو د غپا او د خرو د غږ اوربدو پر مهال دعا :

-له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :إِذَا سَمِعْتُمْ نُبَاحَ الْكِلَابِ، وَنَهِيقَ الْحَمِيرِ بِاللَّيْلِ، فَتَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِنَّهُنَّ يَرَيْنَ مَا لَا تَرَوْنَ«... [84]

-ژباړه:

-کله چې تاسو د شپې د سپيو غپا او د خرو هريدل واورئ، نو له شيطان څخه په الله پناه وغواړئ؛ ځکه هغوی داسې څه ويني چې تاسو يې نه وينئ.

- له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :إِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الْحَمِيرِ فَتَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِنَّهَا رَأَتْ شَيْطَانًا. [85]

-ژباړه:

-کله چې تاسو د خرو غږ واورئ، نو له شيطان څخه په الله پناه وغواړئ؛ ځکه هغه شيطان ليدلی دی.

-نهم ځای :په خوب کې د وېرېدو پر مهال دعا :

-له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :إِذَا فَزِعَ أَحَدُكُمْ فِي النَّوْمِ فَلْيَقُلْ :أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ، وَعِقَابِهِ، وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ، فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهُ. [86]

-ژباړه:

-کله چې له تاسو څخه څوک په خوب کې ووېرېږي، نو و د وايي :أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ، وَعِقَابِهِ، وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ.

---

[83] - سنن أبي داود، حديث ١٥٥٢؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح الجامع* کې صحيح بللی، حديث ١٢٨٢.

[84] - :سنن أبي داود، حديث ٥١٠٣؛ په *الأدب المفرد* کې هم راغلی؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح الجامع* کې صحيح بللی، حديث ٦٢٠.

[85] - صحيح البخاري، حديث ٣٣٠٣؛ صحيح مسلم، حديث ٢٧٢٩.

[86] - سنن الترمذي، حديث ٣٥٢٨؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح سنن الترمذي* کې حسن بللی، حديث ٢٧٩٣.

ketabton.com - The Digital Library

-يعنې :زه د الله تعالى په بشپړو کلمو سره د هغه له غضب، عذاب، د هغه د بندګانو له شر، د شيطانانو له وسوسو او تحريکونو، او له دې څخه چې هغوی ماته حاضر شي، پناه غواړم.

-رسول الله ﷺ وفرمايل چې دا به هغه ته زيان ونه رسوي.

-لسم ځای :په خوب کې د ناخوښۍ او وېرونکې صحنې لیدلو پر مهال دعا :

-له ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :الرُّؤْيَا الْحَسَنَةُ مِنَ اللهِ، فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يُحِبُّ فَلَا يُحَدِّثْ بِهِ إِلَّا مَنْ يُحِبُّ، وَإِذَا رَأَى مَا يَكْرَهُ فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْ شَرِّهَا، وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ، وَلْيَتْفُلْ ثَلَاثًا، وَلَا يُحَدِّثْ بِهَا أَحَدًا، فَإِنَّهَا لَا تَضُرُّهُ.[87]

-ژباړه:

-ښه خوب د الله له لوري وي .نو کله چې له تاسو څخه څوک داسې خوب وويني چې خوښ يې کړي، يوازې له هغه چا سره د شريک کړي چې مينه ورسره لري .او کله چې داسې خوب وويني چې خوښ يې نه وي، نو د هغه له شر او د شيطان له شر څخه د الله ته پناه يوسي، درې ځله د په چپ لوري سپک پوکی وکړي، او له هېچا سره دې هغه خوب نه شريکوي؛ نو هغه خوب به ورته زيان ونه رسوي.

يوولسمه کلا: د سترګو او حسد پر مهال پناه غوښتل :

-عن ابن عباس رضي الله عنهما قال :كان النبي ﷺ يعوّذُ الحسنَ والحسينَ ويقول: أُعِيذُكُمَا بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ، ثم يقول :كان أبوكم يُعَوِّذُ بها إسماعيلَ وإسحاقَ.[88]

- ژباړه

-له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به حسن او حسين رضي الله عنهما په دې دعا سره دم کول :

-تاسو دواړه ته د الله تعالى په بشپړو کلمو پناه درکوم، له هر شيطان، هر زهري او زيان رسوونکي ژوي، او له هرې زيان رسوونکې سترګې څخه.

87 - صحيح البخاري، حديث ٧٠٤٤؛ صحيح مسلم، حديث ٢٢٦١.
88 - رواه البخاري،) ٣٣٧١(، وأبو داود،) ٤٧٣٧(، واللفظ له.

ketabton.com - The Digital Library

-بيا به يې ويل: ستاسو پلار] ابراهيم عليه السلام هم په همدې کلمو اسماعيل او اسحاق عليهما السلام دم کول .

-دولسمه کلا :د سهار او ماښام اذکار:

-عن أبي بكر رضي الله عنه أنه سأل النبي:ﷺ

يا رسول الله !علِّمني ما أقول إذا أصبحتُ وإذا أمسيتُ.

-فقال:

-يا أبا بكر !قل :اللهم فاطرَ السماواتِ والأرضِ، عالمَ الغيبِ والشهادةِ، ربَّ كلِّ شيءٍ ومليكَهُ، أعوذُ بك من شرِّ نفسي، ومن شرِّ الشيطانِ وشِرْكِهِ، وأن أقترفَ على نفسي سوءًا، أو أجرَّهُ إلى مسلمٍ.[89]

-ژباړه:

-له ابوبکر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ ته يې وويل: اې د الله رسوله !ماته داسې دعا راوښيه چې سهار او ماښام يې ووايم«.

-رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوبکره !ووايه :اې الله !د آسمانونو او ځمکې پيدا کوونکيه، په پټو او ښکاره شيانو پوهه، د هر شي ربه او مالکه !زه په تا پناه غواړم د خپل نفس له شر څخه، د شيطان له شر او د هغه له شرک څخه، او له دې څخه چې په خپله کوم بد کار وکړم، يا يې کوم مسلمان ته ور ورسوم.

-ديارلسمه کلا: د غوسې زغمل او کنټرولول :

-عن أنس رضي الله عنه:أن النبي ﷺ مرَّ على قومٍ يصطرعون فقال :ما هذا؟« قالوا :يا رسول الله !هذا فلانٌ الصَّرِيعُ، ما يصارع أحدًا إلا صرعه.

-فقال رسول الله:ﷺ ألا أدلُّكم على من هو أشدُّ منه؟ رجلٌ كلَّمه رجلٌ فكظم غيظَهُ، فغلبه وغلب شيطانَهُ، وغلب شيطانَ صاحبِهِ.[90]

-ژباړه:له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ پر يوې ډلې تېر شو چې يو له بل سره يې کشتي کوله .ويې پوښتل:

89 - أخرجه البخاري في الأدب المفرد) ١٢٠(، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح الأدب المفرد) ٩١٤

90 - أخرجه البزار) ٢٠٥٤(، وحسنه الحافظ في فتح الباري) ٥١٩/١٠

ketabton.com - The Digital Library

»دا څه دي؟« صحابه وو وويل :اې د الله رسوله !دا فلانی دی، داسې زورور کشتي کوونکی دی چې له هر چا سره کشتي وکړي، هغه غورځوي.

-رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته تر هغه هم زورور انسان ونه ښايم ؟ هغه سړی دی چې بل کس ورسره خبرې وکړي (او هغه په غوسه کړي)، خو دی خپله غوسه مهار کړي؛ په دې توګه پر هغه کس، پر خپل شيطان او د خپل مقابل لوري پر شيطان بريالی شي.

-يعنې حقيقي زور يوازې د بدن په قوت کې نه دی؛ بلکې هغه څوک ډېر قوي دی چې د غوسې پر مهال خپل نفس او شيطان کنټرول کړي.

څوارلسمه کلا :د لمانځه د صفونو برابرول :

١ .د صفونو برابرول او تش پې نه پرېښودل :

-عن ابن عمر رضي الله عنهما قال :قال رسول الله:ﷺ أقيموا الصفوف، وحاذوا بين المناكب، وسدوا الخلل، ولينوا بأيدي إخوانكم، ولا تذروا فُرُجاتٍ للشيطان، ومن وصل صفًّا وصله الله، ومن قطع صفًّا قطعه الله.[91]

- ژباړه :

-له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»صفونه برابر کړئ، اوړې يو د بل په مقابل کې برابرې کړئ، تشې ډکې کړئ، د خپلو وروڼو لاسونو ته نرمي وکړئ، او د شيطان لپاره تشې مه پرېږدئ .څوک چې يو صف سره وصل کړي، الله تعالى به يې له خپل رحمت سره وصل کړي، او څوک چې يو صف پرې کړي، الله تعالى به يې پرې کړي.

٢ .د اوږو او پښو برابرول :

-عن أنس رضي الله عنه، عن النبي ﷺ قال :أقيموا صفوفكم[92]«...

قال أنس رضي الله عنه :وكان أحدُنا يُلْزِقُ مَنْكِبَهُ بِمَنْكِبِ صاحبه، وقَدَمَهُ بِقَدَمِهِ .

-ژباړه :

[91] - أخرجه أبو داود) ٦٦٦(، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن أبي داود) ٦٢٠

[92] - أخرجه البخاري) ٧٢٥

ketabton.com - The Digital Library

-له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :خپل صفونه برابر کړئ«...

انس رضي الله عنه وايي :زمونږ څخه به هر يوه خپله اوږه د خپل ملګري له اوږې سره او خپله پښه د هغه له پښې سره نښلوله.

-امام بخاري رحمه الله د دې حديث لپاره دا باب ټاکلی:

»باب إِلْزَاقِ المَنْكِبِ بِالْمَنْكِبِ، وَالقَدَمِ بِالقَدَمِ فِي الصَّفِّ«

-يعنې :په صف کې د اوږې له اوږې او د پښې له پښې سره د نښلولو بيان.

۳.د صفونو په برابرولو ټينګار:

-عن النعمان بن بشير رضي الله عنه قال: أقبل رسول الله ﷺ على الناس بوجهه فقال:

»أقيموا صفوفكم «.ثلاثًا .والله لتُقِيمُنَّ صفوفكم أو ليُخالِفَنَّ الله بين قلوبكم.«

قال :فرأيت الرجل يلصق منكبه بمنكب صاحبه، وركبته بركبة صاحبه، وكعبه بكعبه.[93]

-ژباړه:

-له نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ خلکو ته مخ واړاوه او درې ځله يې وفرمايل: خپل صفونه برابر کړئ«!

-بيا يې وفرمايل: پر الله قسم !يا به تاسو خپل صفونه حتماً برابر کړئ، او يا به الله تعالى ستاسو د زړونو ترمنځ اختلاف پيدا کړي«.

-نعمان رضي الله عنه وايي: ما به سړی ليد چې خپله اوږه يې د خپل ملګري له اوږې، خپله ګوڼډه يې د هغه له ګوڼډې او خپله پونده يې د هغه له پوندې سره نښلوله.

۴.په صف کې د شيطان د ننوتلو مخنيوی :

-عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال :قال رسول الله :ﷺ رُصُّوا صفوفكم، وقارِبوا بينها، وحاذوا بالأعناق، فوالذي نفسي بيده، إني لأرى الشيطان يدخل من خَلَلِ الصف، كأنها الحَذَفُ. [94] الحَذَفُ :غنم صغار سود.

- ژباړه :

93 - أخرجه أبو داود) ۶۶۲(، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن أبي داود) ۶۱۶

94 - أخرجه الحاكم) ۴۱۷/۱، حديث ۱۵۲۱(، وصححه ووافقه الذهبي.

ketabton.com - The Digital Library

-له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»خپل صفونه کلک سره ونښلوئ، يو بل ته يې نږدې کړئ او غاړې سره برابرې کړئ .په هغه ذات قسم چې زما روح يې په لاس کې ده، زه وينم چې شيطان د صف په تشو کې داسې ننوځي لکه واړه تور پسونه«.

الحَذَفُ :واړه تور پسونه.

-پنځه لسمه کلا :د سهوې سجده :

-عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه قال :قال رسول الله:ﷺ إذا شكَّ أحدُكم في صلاته، فلم يدرِ كم صلّى، ثلاثًا أم أربعًا، فليطرح الشكَّ وليبنِ على ما استيقن، ثم يسجد سجدتين قبل أن يسلِّم، فإن كان صلّى خمسًا شفعن له صلاته، وإن كان صلّى إتمامًا لأربع كانتا ترغيمًا للشيطان.

-ژباړه :

-له ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

-کله چې د تاسو څخه يو څوک په خپل لمانځه کې شک وکړي او پوه نه شي چې درې رکعته يې کړي دي که څلور، نو شک د له پامه وغورځوي او پر هغه شمېر د بنا کړي چې پرې يقين لري . -بيا دې له سلام ګرځولو مخکې دوه د سهوې سجدې وکړي .که يې پنځه رکعته کړي وي، دغه دوه سجدې به لمونځ شفع او پوره کړي، او که يې څلور رکعته په بشپړ ډول کړي وي، دغه دوه سجدې به د شيطان د ذليلولو سبب شي.

شپاړه سمه کلا :له جماعت سره لازم پاتې کېدل :

-عن عَرْفَجَةَ بن شُرَيْحٍ الأشجعي رضي الله عنه قال: رأيتُ النبيَّ ﷺ على المنبر يخطب الناس فقال :إِنَّ الشَّيْطَانَ مَعَ مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ يَرْكُضُ . [95]

- ژباړه :له عرفجة بن شريح الأشجعي رضي الله عنه څخه روايت دی: ما رسول الله ﷺ پر منبر وليد چې خلکو ته يې وينا کوله، نو ويې فرمايل :بېشکه شيطان له هغه چا سره وي چې له جماعت څخه جلا شي او هغه پسې منډې وهي.

[95] - أخرجه النسائي) ٤٠٢٢(، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن النسائي) ٣٧٥٣.

ketabton.com - The Digital Library

۲ .جماعت ته پابند پاتې کېدل او له تفرقې څخه ځان ساتل:

-عن ابن عمر رضي الله عنهما قال: خطبنا عمرُ بالجابية فقال: يا أيها الناس !إني قمتُ فيكم كمقام رسول الله ﷺ فينا فقال :عليكم بالجماعة، وإياكم والفرقة، فإن الشيطان مع الواحد، وهو من الاثنين أبعد .من أراد بُحبوحةَ الجنة فليلزم الجماعة.[96]

-ژباړه:

-له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي: عمر رضي الله عنه په» جابيه «کې مورِ ته خطبه راکړه او ويې ويل:

-اې خلکو !زه ستاسو په منځ کې داسې ولاړ يم لکه رسول الله ﷺ چې زمورِ په منځ کې ولاړ وه او فرمايل يې :پر جماعت پاېند اوسئ، او له تفرقې څخه ځان وساتئ؛ ځکه شيطان له يوه کس سره وي، خو له دوو کسانو څخه ډېر ليرې وي .څوک چې د جنت پراخه او غوره برخه غواړي، نو له جماعت سره دې لازم پاتې شي.

-د» جماعت «معنا:

-ابن مسعود رضي الله عنه فرمايلي دي: الجماعة ما وافق الحقَّ وإن كنتَ وحدك.[97]

-ژباړه:

-جماعت هغه دی چې له حق سره موافق وي، که څه هم يوازې وي.

-ابو شامة رحمه الله وايي:

-هر ځای چېپه جماعت دپاېندی امر راغلی، مراد ترې د حق لازم نيول او د هغه پيروي کول دي؛ که څه هم د حق منونکي لږ وي او مخالفت کوونکي يې ډېر وي .ځکه حق هغه دی چې د رسول الله ﷺ او د هغه د صحابهوو له زمانې څخه لومړی جماعت پرې ولاړ و .له هغوی وروسته د بدعت د خلکو ډېر شمېر ته اعتبار نه ورکول کېږي.[98]

---

96 - أخرجه الترمذي) ۲۱۶۵(، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن الترمذي) ۱۷۵۸

97 - أخرجه اللالكائي في شرح أصول اعتقاد أهل السنة) ۱۶۰(، او محدث الباني رحمه الله يې سند په مشكاة المصابيح) ۶۱/۱ (کې صحيح بللی دی.

98 - أبو شامة، الباعث على إنكار البدع والحوادث، ص ۱۹–۲۰.

ketabton.com - The Digital Library

-اسلام په بېلابېلو بڼو د جماعت پر ساتلو ټينګار کړی:

-اسلام په بېلابېلو ډولونو د جماعت ساتلو ته ډېر اهميت ورکړی، ځکه جماعت انسان له شيطان څخه ساتي او د هغه د نفوذ مخه نيسي.

لومړی :د جماعت لمونځ :

-عن أبي الدرداء رضي الله عنه قال :قال رسول الله:ﷺ ما من ثلاثةٍ في قريةٍ ولا بدوٍ، لا تُقام فيهم الصلاة، إلا قد استحوذ عليهم الشيطان، فعليكم بالجماعة؛ فإنما يأكل الذئبُ القاصيةَ [99].

-ژباړه:

-له ابو الدرداء رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

-په هر کلي يا دښته کې چې درې کسان وي او د جماعت لمونځ پکې نه کېږي، نو شيطان به خامخا پر هغوی غالب شوی وي. نو تل له جماعت سره اوسئ؛ ځکه لېوه له هغې رمې څخه پسونه ښکارکوي چې له خپلې رمې څخه جلا شوي وي.

-تشريح:

-په حديث کې د» القاصية «مثال د هغه کس لپاره راغلی چې له جماعت څخه ځان جلا کوي . لکه هغه پسونه چې له رمې څخه ليرې شي او لېوه يې په اسانه ښکار کړي، همدارنګه شيطان پر هغه انسان ډېر اغېز کولی شي چې له صالح جماعت څخه ځان جلا کړي.

-دوهم :په سفر کې جماعت :

-عن ابن عمرو رضي الله عنهما قال :قال رسول الله:ﷺ الرَّاكِبُ شَيْطَانٌ، وَالرَّاكِبَانِ شَيْطَانَانِ، وَالثَّلَاثَةُ رَكْبٌ. [100]

- ژباړه:

-له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

[99] - أخرجه النسائي) ٨٤٩(، وحسنه الألباني رحمه الله في صحيح سنن النسائي) ٨١٧

[100] - أخرجه أبو داود) ٢٦٠٧(، وحسنه الألباني رحمه الله في صحيح سنن أبي داود) ٢٢٧١

ketabton.com - The Digital Library

-يو سپرلی چې يوازې وي، د شيطان په څېر دی؛ دوه سپاره ، د دوو شيطانانو په څېر دي؛ خو چې درې کسان شي، نو د سفر يوه منظمه ډله ده.

-يعنې : په سفر کې يوازېتوب او له ملګرو څخه جلاوالی د شيطان د نفوذ لپاره زمينه برابروي؛ خو کله چې درې يا له هغه څخه زيات کسان په ګډه سفر کوي، د جماعت او ملګرتيا حالت رامنځته کېږي.

-درېيم :په مجلس کې يو ځای کېدل :

-عن جابر بن سمرة رضي الله عنه قال:خرج علينا رسول اللهﷺ ، فرآنا حِلَقًا، فقال» :ما لي أراكم عِزِينَ؟«[101]

-ژباړه:

-له جابر بن سمره رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي:

رسول الله ﷺ موږ ته راووت، موږ يې وليدلو چې په جلا جلا حلقو کې ناست وو، نو ويې فرمايل:

»ولې زه تاسو داسې وينم چې جلا جلا ډلې سره ناست ياست؟«

-تشريح:

-د رسول الله ﷺ د وينا» ما لي أراكم عِزِينَ؟ «معنا دا ده :ولې زه تاسو په تيتو او جلا ډلو کې وينم؟

-د سفر او اقامت پر مهال يو ځای کېدل :

-عن أبي ثعلبة الخُشني رضي الله عنه قال:كان الناس إذا نزلوا منزلًا، تفرَّقوا في الشعاب والأودية، فقال رسول الله» :ﷺ إن تفرُّقكم في هذه الشعاب والأودية إنما ذلكم من الشيطان .«فلم ينزلوا بعد ذلك منزلًا إلا انضمَّ بعضهم إلى بعض، حتى يُقال :لو بُسط عليهم ثوبٌ لَعَمَّهم.[102]

[101] - أخرجه مسلم) ٤٣٠

[102] - أخرجه أبو داود) ٢٦٢٨(، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن أبي داود) ٢٢٨٨

ketabton.com - The Digital Library

- ژباړه: له ابو ثعلبه خُشني رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي: کله به چې خلک په کوم ځای کې کيناستل او د استراحت لپاره به يې تمځای جوړ کړ، نو په درو، لارو او وادیو کې به جلا جلا خپاره شول.

رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو په دغو درو او وادیو کې تيتبدل يوازې د شيطان له لوري دي».

له دې وروسته به چې هغوی په کوم ځای کې کيناستل، نو يو بل ته به سره نږدې کېدل او يو ځای به کېناستل، تر دې چې ويل کېدل به :

-که پر هغوی يوه توته توکر هم وغورول شي، ټول به ترې لاندې راشي.

-څلورم :پر خوړو راټولېدل :

-عن وحشي بن حرب رضي الله عنه: أن أصحاب النبي ﷺ قالوا :يا رسول الله، إنا نأكل ولا نشبع .قال» :فلعلَّكم تَفترقون؟ «قالوا :نعم .قال» :فاجتمعوا على طعامكم، واذكروا اسم الله عليه، يُبارك لكم فيه.[103]

-ژباړه :

-له وحشي بن حرب رضي الله عنه څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ اصحابو وويل:

»اې د الله رسوله !مور خواړه خورو، خو مارہ کېږو نه«.

رسول الله ﷺ وفرمايل: کېدای شي تاسو په جلا جلا ډول خواړه خورئ؟«

هغوی وويل: هو. رسول الله ﷺ وفرمايل: نو پر خپلو خوړو سره راټول شئ، او د خوړو پر مهال د الله نوم واخلئ؛ په دې سره به ستاسو په خوړو کې برکت واچول شي.

-تشريح :

-د دې حديث له مخې، په خوړو کې د مسلمانانو يو ځای کېدل او د خوړلو پر مهال د الله تعالی نوم اخيستل د برکت له اسبابو څخه دي.

[103] - أخرجه أبو داود) ٣٧٦٤(، وحسنه العلامة الألباني رحمه الله في صحيح سنن أبي داود) ٣١٩٩ همدارنګه د دې تشريح په سلسلة الأحاديث الصحيحة) ٣/٣٩٤-٣٩٥ (کې راغلې ده.

ketabton.com - The Digital Library

-له بده مرغه نن سبا ډېر مسلمانان، په ځانګړې توګه هغه کسان چې د لوبديځ عادتونو او اروپايي دودونو تر اغېز لاندې راغلي دي، وينو چې شيطان د هغوی د مال يوه برخه .نه په زور او تېري، بلکې د هغوی په خپله خوښه .ترې اخيستې ده.

-دا کار يا د سنتو د نه پوهېدو له امله دی، يا د هغوی له لوري د سنتو د پرېښودلو او بې پروايۍ له امله.

-ايا ته هغوی نه وينې چې پر خپلو دسترخوانونو او مېزونو د خوړو پر مهال له يو بل څخه جلا کېږي؟ هر يو يې په خپل ځانګړي لوښي کې يوازې خواړه خوري، بې له کومې اړتيا؛ حتی د خپل څنګ ملګري سره هم خواړه نه شريکوي، حال دا چې دا کار د پورته حديث خلاف دی.

اووه لسمه کلا :په تشهد کې د شهادت په ګوته اشاره :

-عن نافع قال:كان عبد الله بن عمر إذا جلس في الصلاة، وضع يديه على ركبتيه، وأشار بأصبعه، وأتبعها بصره، ثم قال :قال رسول الله» :ﷺ لَهِيَ أشدُّ على الشيطان من الحديد . يعني السبابة.[104]

-ژباړه :

-له نافع رحمه الله څخه روايت دی، وايي: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به چې په لمانځه کې کېناست، خپل لاسونه به يې پر زنګنونو کېښودل، په خپلې ګوتې به يې اشاره کوله او سترګې به يې د هغې ګوتې په لوري نيولې وې.

-بيا يې ويل چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دا د شهادت ګوته [پر شيطان باندې له اوسپنې څخه هم ډېره سخته ده. مراد ترې د شهادت ګوته، يعنې سبابه ده.

-اتلسمه کلا :د سُترې په لوري لمونځ کول :

-عن سهل بن أبي حَثْمَةَ رضي الله عنه قال :قال رسول الله:ﷺ إذا صلَّى أحدكم إلى سُترةٍ فليدنُ منها، لا يقطع عليه الشيطان صلاته[105].

-ژباړه :

[104] - أخرجه أحمد) ٦٠٠٠(، او سند يې حسن دی، لکه څنګه چې الباني رحمه الله په مشكاة المصابيح) ٢٨٩/١ (کې ويلي دي.

[105] - أخرجه أبو داود) ٦٩٥(، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن أبي داود) ٦٤٣ .

ketabton.com - The Digital Library

-له سهل بن ابي حثمه رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل:كله چې له تاسو څخه يو څوک د سترې په لوري لمونځ کوي، نو هغې ته د نږدې شي، تر څويې شيطان لمونځ پرې نه کړي.

-د سترې اندازه :

-د يادونې وړ ده چې هغه لږ تر لږه اندازه چې د لمونځ کوونکي لپاره د سترې په توګه بسنه کوي او د تېرېدونکو خلکو له ضرر څخه يې ساتي، د» مُؤَخِّرَةِ الرَّحْل «په اندازه ده.

-د» مُؤَخِّرَةِ الرَّحْل «معنا :

-مُؤَخِّرَةُ الرَّحْل هغه لرګى دى چې د اوښ د زين په وروستۍ برخه کې وي.

-عن طلحة رضي الله عنه قال :قال رسول الله:ﷺ إذا وضع أحدكم بين يديه مثل مؤخرة الرحل، فليصلِّ، ولا يبالِ من مرَّ وراء ذلك.[106]

-ژباړه :

-له طلحه رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»كله چې له تاسو څخه يو څوک خپلې مخې ته د اوښ د زين د وروستي لرګي په اندازه کوم شى کېږدي، نو لمونځ دې وکړي او له دې وروسته چې څوک د هغه شاته تېرېږي، پروا دې نه کوي«.

-نولسمه کلا: الله تعالى ته دعا کول :

-عن أبي الأزهر الأنماري رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ كان إذا أخذ مضجعه من الليل قال:

»بِسْمِ اللهِ وَضَعْتُ جَنْبِي، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَاخْسَأْ شَيْطَانِي، وَفُكَّ رِهَانِي، وَاجْعَلْنِي فِي النَّدِيِّ الأَعْلَى.[107]

-ژباړه :

-له ابو الأزهر انماري رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ به كله د شپې خپلې بسترې ته لاړ او څملاسته به ، نو دا دعا به يې کوله:

[106] - أخرجه مسلم) ٤٩٩

[107] - أخرجه أبو داود) ٥٠٥٤(، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن أبي داود) ٤٢٢٦

ketabton.com - The Digital Library

-د الله په نوم مې خپل اړخ کېښود .اې الله !زما ګناه وبخښه، زما شيطان ذليل او له ما څخه لرې کړه، زما د بنديز او تړاو غوټه خلاصه کړه، او ما په لوړ مجلس کې شامل کړه.

شلمه کلا: د شيطان مخالفت

- مسجد ته د ننوتلو اووتلو دعا :

-له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيُسَلِّمْ عَلَى النَّبِيِّﷺ ، وَلْيَقُلْ :اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ، وَإِذَا خَرَجَ فَلْيُسَلِّمْ عَلَى النَّبِيِّﷺ ، وَلْيَقُلْ :اللَّهُمَّ اعْصِمْنِي مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ. [108]

ژباړه:

کله چې له تاسو څخه څوک مسجد ته داخل شي، پر نبي ﷺ دې سلام ووايي او و دې وايي :اې الله !ما ته د خپل رحمت دروازې پرانيزه .او کله چې له مسجد څخه وځي، پر نبي ﷺ دې سلام ووايي او و دې وايي :اې الله !ما د رټل شوي شيطان څخه وساته.

-لومړی: له عجله کولو څخه ډډه کول :

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :التَّأَنِّي مِنَ اللَّهِ، وَالْعَجَلَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ.[109]

ژباړه:

-سنجول او په کارونو کې له تأنی او ارامی څخه کار اخيستل د الله له لوري دي، او بېړه کول د شيطان له لوري دي.

-يعنې مؤمن بايد په خپلو کارونو کې بېځايه عجله ونه کړي، بلکې له فکر، تدبر او د پايلو له سنجولو وروسته اقدام وکړي؛ ځکه بېځايه عجله انسان د تېروتنې او پښېمانۍ لوري ته بيايي.

-دويم: د لمر او سيوري ترمنځ کېناستل :

-له رسول الله ﷺ څخه روايت شوی چې هغه ﷺ د لمر او سيوري ترمنځ له کېناستلو څخه منع کړې ده او فرمايلي يې دي:

---

[108] - سنن ابن ماجه، حديث ۷۷۳؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح سنن ابن ماجه*، حديث ۶۲۷ کې صحيح بللی دی.

[109] - ابو يعلى، *مسند*، حديث ۴۲۵۶؛ سند يې حسن بلل شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

»مَجْلِسُ الشَّيْطَانِ.«[110]

ژباړه:

-دا د شيطان د کښاستو ځای دی.

يعني داسې ځای کې مه کښئ چې د بدن يوه برخه مو په لمر او بله برخه مو په سيوري کې وي.

د» الضُّح «معنا:

-»الضُّح «هغه د لمر رڼا ته ويل کېږي چې پر ځمکه په بشپړه توګه خپره شوې وي .مطلب دا دی چې انسان دپه داسې ځای کې نه کښي چې نيم بدن يې په لمر او نيم يې په سيوري کې وي.

-درېيم: په ښي لاس خوړل او څښل :

-له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَأْكُلْ بِيَمِينِهِ، وَإِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرَبْ بِيَمِينِهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ، وَيَشْرَبُ بِشِمَالِهِ.[111]

ژباړه:

-کله چې له تاسو څخه څوک خواړه خوري، په ښي لاس يې د خوري، او کله چې څښاک کوي، په ښي لاس د څښي؛ ځکه شيطان په خپل چپ لاس خوراک کوي او په خپل چپ لاس څښاک کوي.

-نو مسلمان ته پکار ده چې په خوړلو او څښلو کې له شيطان سره مخالفت وکړي او په ښي لاس خوراک او څښاک وکړي.

-څلورم: په ښي لاس اخيستل او ورکول :

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

»لِيَأْكُلْ أَحَدُكُمْ بِيَمِينِهِ، وَيَشْرَبْ بِيَمِينِهِ، وَلْيَأْخُذْ بِيَمِينِهِ، وَلْيُعْطِ بِيَمِينِهِ، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَأْكُلُ بِشِمَالِهِ، وَيَشْرَبُ بِشِمَالِهِ، وَيُعْطِي بِشِمَالِهِ، وَيَأْخُذُ بِشِمَالِهِ .[112]

[110] - مسند احمد، ۴۱۳/۳–۴۱۴، حديث ۱۵۴۶۲؛ سند يې حسن بلل شوی دی.

[111] - صحيح مسلم، حديث ۲۰۲۰.

[112] - سنن ابن ماجه، حديث ۳۲۶۶؛ علامه الباني رحمه الله په *صحيح سنن ابن ماجه*، حديث ۲۶۴۳ کې صحيح بللی دی.

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه:

-له تاسو څخه د هر څوک په ښي لاس خوراک وکړي، په ښي لاس د څښاک وکړي، په ښي لاس د شی واخلي او په ښي لاس دشی ورکړي؛ ځکه شيطان په چپ لاس خوري، په چپ لاس څښي، په چپ لاس يې ورکوي او په چپ لاسې اخلي.

-پنځم: له تکبر څخه ډډه کول :

پوه شه. الله د له شيطان څخه وساته. چې تکبر د ابليس له صفتونو څخه دی.

-الله تعالى فرمايي: ﴿وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ﴾ [113]

ژباړه:

-او کله چې مور ملائکو ته وويل :آدم ته سجده وکړئ؛ نو ټولو سجده وکړه، پرته له ابليسه؛ هغه انکار وکړ، تکبر يې وکړ او له کافرانو څخه شو.

- الله تعالى فرمايي: ﴿قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَنْ تَتَكَبَّرَ فِيهَا فَاخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ الصَّاغِرِينَ﴾ [114]

ژباړه:

-الله جل جلاله وفرمايل :له دې ځايه کوز شه؛ ته حق نه لرې چې په دې کې تکبر وکړې، نو ووځه، بېشکه ته له ذليلانو څخه يې.

-له شيطان سره په دغه صفت کې مخالفت د تواضع او عاجزۍ په اختيارولو سره کېږي .-

تواضع په دوه ډوله ده:

- لومړی :د الله تعالى د امر پر وړاندې تواضع؛ يعنې د هغه امرونه په اطاعت سره منل او د هغه له منع شوو کارونو څخه ځان ساتل.
- دويم :د الله تعالى د عظمت، جلال، عزت او کبريا پر وړاندې تواضع او عاجزي کول مناسب دي چې د دواړو پښو لپاره دواړه څپلۍ يا بوټان وکاروي او د رسول الله ﷺ له دې لارښوونې سره.سم . [115]

[113] - سورت البقره، آيت ۳۴.

[114] - سورت الأعراف، آيت ۱۳.

ketabton.com - The Digital Library

-شپږم: شيطان دغرمې خوب نه کوي :

-له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :قِيلُوا فَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَا تَقِيلُ. [116]

ژباړه:

غرمۍ وکړئ، ځکه شيطانان غرمۍ نه کوي.

يعنې د غرمې په وخت کې لږ استراحت کول د سنتو له لارښوونو څخه دي.

-اووم: شيطان په يوه څپلۍ کې کړئ :

-له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: إِنَّ الشَّيْطَانَ يَمْشِي فِي النَّعْلِ الْوَاحِدَةِ[117].

ژباړه:

-بېشکه شيطان په يوه څپلۍ کې کړئ.

